

# د سلفو صالحینو حالات په مبارکه روژه کې

یوه ارزښتناکه تحفه د هغو کسانو لپاره
چې غواړي لــه روژې څخه ګټــه واخلي.

لیکوال: شاکر الذهبی
[illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سلفو صالحینو حالات
# په مبارکه روژه کې

**لیکوال:** شاکر الذهبی
**ژباړه:** محمدرضاصافی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

مقدمه ........................................................ ٥

فصل: د روژې لپاره تیاری ................................................ ٦

د روژې لپاره تیاری مختلف ډولونو لري، لکه: ............................. ٨

فصل: سلف صالحین او دروژی لپاره تیاری.................................. ١٨

فصل:د روژې راتګ او خوښی ............................................ ٢٤

فصل:د روژې د نیولو هدف ............................................. ٢٦

فصل:ذهبی فایده ..................................................... ٢٧

فصل:د سلف صالحینو سپارښتنې ........................................ ٢٨

فصل: زموږ حال په روژه کې! ........................................... ٢٩

فصل:په روژه کې کوم کارونه وکړو چې د قیام اللیل له فضیلت څخه محروم
نه شو؟ ............................................................ ٣٠

فصل:هغه کتابونه چې د قیام اللیل په اړه لیکل شوي دي:............ ٣١

فصل:قیام اللیل او د سلف صالحینو لمونځونه په روژه کې............ ٣٣

فصل:د سلف صالحین د نفلي لمانځه شمېر په روژه کې............. ٥٥

فصل: د شپې د زنده دارۍ ګټې .......................................... ٥٧

فصل:د سلف صالحینو صدقه ورکول په روژه کې .......................... ٥٨

فصل:په روژه کې د غیبت او دروغ ویلو په اړه د سلف وینا.............. ٦٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

فصل:سلفو علماوو به د روژې په میاشت کې داحادیثو تدریس ځنډول او
قرآن کریم ته به یې مخه کوله. ........................................ ٦٤
فصل:سلف صالحین او د روژی په میاشت کې د قرآن کریم تلاوت.... ٦٧
فصل:سلف صالح ژړا او زاری. ........................................ ٧٧
فصل: سلف صالح او په مسجد کې ناسته ................................ ٨٢
فصل:روژه د جهاد او مبارزې میاشت.................................... ٨٤
فصل:د سلفو اهتمام د اعتکاف لپاره.................................... ٨٨
فصل:له روژې وروسته سلف صالحین ................................... ٩٣
تحذیرونه! ............................................................ ٩٦
فصل:په وروستیو ورځو د روژی کې دا پوښتنه له ځان څخه وکړه چې...... ٩٨
د فهرست مصادر او مراجع ........................................ ١٠٠

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلف صالحین هغه کسان دي چې قولاً او عملاً یې خپل ژوند د الله تعالی دین ته وقف کړی و،نو الله تعالی هغوی د خپل دین د نصرت لپاره غوره کړل، د هغوی څخه یې خپل رضایت اعلان کړ، او د هغوی په وسیله یې خپل دین قوي کړ.

نو هر څوک چې خپل ژوند د هغوی په نقش قدمونو برابر کړي، هغه به نېکمرغه ژوندون ترلاسه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مقدمه

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره ونستهديه ونتوب إليه، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا، من يهد الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله، «إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ».

اللهم صل وسلم وبارک على عبدك ورسولك محمد وعلى آله وصحبه أجمعين، اما بعد:

يو له هغو اسبابو څخه چې عبادت خوندور کوي،انسان ورڅخه ګټه اخيستلای شي او په ځان کې اخلاص پيدا کولی شي،د سلفو د حالاتو مطالعه ده چې دوی د هغه عبادت په اړه څه کړي دي.

له همدې امله مې وغوښتل چې د سلفو صالحينو احوال په مبارکه روژه کې راټول او تاسو عزيزانو ته وړاندې کړم، ترڅو هغه زموږ لپاره د لارې مشال وګرځي او موږ ټول له مبارکې روژې څخه ګټه پورته کړو.

په دې کتاب کې ممکن په ځينو برخو کې له ما څخه تېروتنه شوې وي، خو پوه شئ چې زه هم يو بشر يم او الله تعالى زه له تېروتنو څخه نه يم خوندي کړی.هيله لرم که په دې کتاب کې کومه تېروتنه ستاسې مخې ته راشي، له ما سره يې شريکه کړئ ترڅو هغه اصلاح کړم.

وصلى الله على سيدنا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.

**ستاسو ورور: شاکر الذهبي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل: د روژې لپاره تیاری

دا یوه قاعده ده چې د هر عبادت لپاره تیاری ونیول شي،هغه عبادت خوندور کېږي او د الله تعالی رضا په کې حاصلېږي.نو څوک چې غواړي له دې نېکمرغه او برکتناکه میاشتې څخه ګټه پورته کړي،باید خپل ځان قولاً او عملاً د دې میاشتې لپاره چمتو کړي.

د سلفو له جملې یو ویلي دي:څوک چې د رجب په میاشت کې کښت ونه کړي او په شعبان کې هغه اوبه نه کړي،نو څنګه به وتوانېږي چې په روژه کې خپل حاصلات ترلاسه کړي؟

ډاکټر عبدالملک القاسم وایي:د عبادت د توفیق له نښو څخه یوه دا ده چې انسان باید د عبادت لپاره له مخکې څخه د عبادت په وسیله تیاری وکړي.

له همدې امله یې ویلي دي:خوشحاله دې وي هغه څوک چې له روژې مخکې خپل نفس اصلاح کړي.

شیخ عبدالعزیز طریفی حفظه الله وایي:مؤمن د روژې په انتظار پاتې کېږي ترڅو پکې عبادت وکړي،او منافق د روژې په انتظار پاتې کېږي ترڅو پکې ګناه وکړي.

لکه څنګه چې روایت کې راځی:«روژه د مؤمن لپاره غنیمت او ګټه ده، او د فاجر لپاره تاوان دی.»(مسند احمد)

کله چې د سلفو صالحینو ژوند او سیرت ته مراجعه وکړو،نو پوهیږو چې د شعبان میاشتې په راتګ سره دوی خپل ټول مشغولیتونه او کارونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېښودل او ټولو خپلې تیاریانې د روژې میاشتې لپاره نیولې.مختلفو اذکارو او د قرآن کریم تلاوت ته به یې مخه کوله او دغه تلاوت به یې په بشپړه توګه، صحیح او د رسول الله ﷺ د طریقی سره سم ترسره کولو.او ویل به یې: «شعبان د قرآن د حافظانو میاشت ده.»د خپلو مالونو څخه به یې زکات ورکولو ترڅو خپلو ضعیفو او بې وزلو وروڼو سره مرسته وکړي.

شیخ صالح العصیمی وایی: من استعد لرمضان بالطاعة؛ أعین علی ما فیه منها، ومن قدم بین یدی رمضان أنواع المعاصي والمحرمات؛ فإنه یضع علی قلبه و روحه أثقالاً تحول بینه وبین الطاعات في رمضان.

یعنی: یو کس چې د روژې میاشتې لپاره خپل ځان مخکې له مخکې دعبادت او طاعت کولو لپاره تیاروي،داسې کس به په دې مبارکه میاشت کې د الله تعالی له خوا مرسته او یاري ترلاسه کری.او هغه څوک چې د روژې له راتګ مخکې مختلف ګناهونه کوي،هغه د دې ګناهونو له امله په خپلو زړونو باندې د ګناه دروند بار اچوي چې د روژې په میاشت کې یې د عبادت ترسره کولو کې خنډ جوړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د روژې لپاره تیاري مختلف ډولونو لري، لکه:

(۱)- مخکې له دې چې روژه راورسېږي، یو کس باید د خپل وخت لپاره یو تقسیم اوقات جوړ کړي،په داسې ډول چې زیاتره وخت پکی د الله تعالی عبادت او د قرآن کریم د صحیح فهم لپاره ځانګړی کړي،او لږ وخت د خوراک، خوب او خبرو اترو لپاره پرېږدي.

(۲)- د سلفو صالحینو د ژوند او سیرت مطالعه کول،چې هغوی به په روژه کې خپل وخت څنګه تېرولو؟د هغوی ورځې به څنګه وې؟ او قیام اللیل به یې څنګه ادا کولو؟

یو عالم ویلي دي: د سلف صالحینو سیرت ته په ژوره کتنه د رمضان د روژې خوند څو چنده زیاتېږي،په ځانګړي ډول هغه وخت چې انسان د هغوی د کړنو پیروي وکړي او وپوهېږي چې هغوی به له روژې څخه څنګه ګټه اخیستله.

**فایده: هغه کتابونه چې د روژې په اړه د سلفو صالحینو د حالتونو په اړه لیکل شوي دي:**

(۱)- لطائف المعارف – امام ابن رجب حنبلي

(۲)- حال السلف في رمضان – شیخ أبویوسف حمیض

(۳)- حال السلف في رمضان-یو طالب العلم

(۴)- أقوال وقصص السلف في الصیام – احمد مصطفی متولي

(۵)- هدی السلف في رمضان – شیخ ډاکټر سعید بن سالم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(٦)- جدول السلف في رمضان – محمد هشام

(٦)- احوال پیشینیان در رمضان – یو معاصر لیکوال

(٣)- ډاکټر مساعد مطار وايي: له هغو امورو څخه چې انسان د روژې لپاره تیاروي، د فضائل القرآن کتابونو مطالعه کول دي.نو انسان باید هغه کتابونه چې د قرآن د فضیلتونو په اړه لیکل شوي دي،مطالعه کړي،په ځانګړې ډول د علامه ابن کثیر رحمه الله کتاب فضائل القرآن.

(۴)- هڅه وکړي چې هغه آیتونه او حدیثونه مطالعه کړي چې د رمضان د روژې په اړه په نصوصو کې راغلي دي، او غوره به دا وي چې د تفاسیر کتابونه، د احادیثو شروح، او د دې موضوع په اړه د نصوصو څخه اخیستل شوي ګټور معلومات هم وڅېړي.

(۵)- هغه څه چې په ژوند کې د الله تعالی د قهر او غضب سبب ګرځي،که هغه په خبرو کې وي،په اعمالو کې، یا د موبایل او کمپیوټر له لارې وی،هغه دې له خپل ژوند څخه لرې کړي. ځکه چې په هغه ځای کې چې ګناه موجوده وي،انسان نشي کولی په اخلاص سره د الله تعالی عبادت ته مخه کړي.

امام ابن رجب رحمه الله وایی: سئل ابن مسعود رضی الله عنه: كيف كنتم تستقبلون شهر رمضان؟ فقال: ما كان أحدنا يجرؤ على استقبال هلال رمضان وفي قلبه مثقال ذرة حقد على أخيه المسلم»د دې اثر په اړه هیڅ سند په شتون کی نیشته. والله اعلم

یعنې له ابن مسعود څخه پوښتنه وشوه چې تاسو د رمضان څنګه هرکلی کاوه؟هغه وفرمایل:زموږ هیڅ یو هم د رمضان هرکلی کولو جرئت نه درلود، که چیرې په زړه کې یې د خپل مسلمان ورور په اړه حتی د ذرې په اندازه کینه هم لرله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یاد ولرئ کله چې یو شخص گناهونه پرېږدي،نو هغه کولی شي چې ورځ روژه او شپه قیام اللیل وکړي.یوازې گناهونه دي چې انسان دښو اعمالو کولو څخه محرومويي.

یو کس د حسن بصري رحمه الله څخه پوښتنه وکړه:ای ابو سعید،زه په پوره روغتیا او تندرستۍ سره ویده کیږم او غواړم چې د شپې قیام اللیل وکړم،د اودس لپاره ټول وسایل هم تیاروم،خو بیا هم نه ویښیږم، دا څه وجه ده ؟ حضرت حسن بصري رحمه الله وفرمایل:ستا گناهونو ته تړلي یې.

په همدې ډول: له ابن مسعود رضي الله عنه څخه هم پوښتنه وشوه چې ولې موږ نشو کولای د قیام اللیل لپاره راویښ شو؟

هغه وفرمایل: ستاسې گناهونو تاسې د دې فضیلت څخه محرومه کړی یې.

یو له نیکو کسانو څخه چې یو سفر څخه راستون شوی و،ورته یوه راحته بستر برابره شوه او هغه پرې پرېووت. د دې له امله یې د شپې عبادت ترسره کول هېر کړل.په دې حالت کې هغه ډېر خفه شو او قسم یې وکړ چې بیا به هېڅکله پر بستر ویده نشي.صلاة اللیل، از شیخ عطیه

ابوسلیمان دارانې وایي:ډېری حرام خوراکونه او حرام نظرونه د دې سبب گرځي چې انسان د قیام اللیل له فضیلت څخه محروم شي.

له یو یو تن دسلف څخه پوښتنه وشوه: ولې موږ د شپې د قیام اللیل لپاره نه راویښیږو؟

هغه وفرمایل: ځکه گناهونو تاسې محاصره کړي یې.حلیة الاولیاء (۱/۳۰۷)

یو شخص ابراهیم بن ادهم ته وویل: زما لپاره داسې درمل وښایه چې زه د قیام اللیل لپاره توان پیدا کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهیم بن ادهم وفرمایل:د ورځې د الله تعالی نافرماني مه کوه،نو په شپه به الله تعالی تا په خپل حضور کې ودروي.

(٦)- یو کس باید مخکې له دې چې روژه راورسیږي،د خپل نفس په اصلاح کولو کې هڅه او کوښښ وکړي.عمر بن قیس رحمه الله وایی:طوبی لمن أصلح نفسه قبل رمضان».(لطائف المعارف ص١٣٩ظ)

یعنی: هغه څوک ډېر نېکمرغه دی چې خپل نفس د روژې څخه مخکې اصلاح کړي.

هو خپل نفس اصلاح کړه او هر هغه څه چې تا ته زیان رسوي پرېږده. بدې خبرې مه کوه،خپل ناسم اخلاق پرېږده، او دا غوره وخت دی چې پکی سگریټ او نسوار هم پرېږدې.

شیخ ابن عثیمین رحمه الله فرمایي: د روژې مبارکه میاشت د هغو کسانو لپاره غوره فرصت دی چې غواړي له دې پاکې میاشتې څخه گټه واخلي او ځان د سگرټ او نسوارو په څیر ناوړو او زیانمنو عادتونو څخه خلاص کړي.فتاوی الشیخ (١٩/١٨٣)

شیخ محمد صالح المنجد رحمه الله فرمایي:د روژی په میاشت کې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سنتونه او لارښوونې دا دي:

- د روژې نیول د ښو اخلاقو سره.

- د شپې قیام اللیل کول.

- د قرآن کریم تلاوت کول.

- داسې عبادات ترسره کول چې د تقوا سبب شي او انسان الله تعالی ته نږدې کړي.دغه عملونه مسلمان له نېکو کارونو نه منع کوي او نه د هغه د دین او دنیا په گټو کې خنډ جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷)- مخکې له دې چې روژه راورسېږي، يو کس بايد هڅه وکړي چې ورو ورو له زيات خوراک څخه ځان وساتي، ترڅو د روژې لپاره ځان چمتو کړي.بې له شکه، زيات خوراک د کافرانو له صفت څخه دی.عن ابن عمر رضي الله عنهما أَنَّهُ كَانَ لَا يَأْكُلُ حَتَّى يُؤْتَى بِمِسْكِينٍ يَأْكُلُ مَعَهُ، فَأَدْخَلْتُ رَجُلًا يَأْكُلُ مَعَهُ فَأَكَلَ كَثِيرًا، فَقَالَ : يَا نَافِعُ، لَا تُدْخِلْ هَذَا عَلَيَّ، سَمِعْتُ النَّبِيَّ – صلى الله عليه وسلم – يَقُولُ: «الْمُؤْمِنُ يَأْكُلُ فِي مِعًى وَاحِدٍ، وَالْكَافِرُ يَأْكُلُ فِي سَبْعَةِ أَمْعَاءٍ». (بخاری۵۳۹۳)

يعنی له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه به تر هغه وخته خواړه نه خوړل،ترڅو چې به يې يو مسکين نه و راوستی چې ورسره خواړه وخوري.نافع وايي: ما يو سړی راوست ترڅو د هغه سره خواړه وخوري،مگر هغه سړي ډېر خواړه وخوړل.ابن عمر رضي الله عنهما وفرمايل:ای نافع،بيا هغه سړی ما ته مه راوړه،ځکه ما د نبي کريم ﷺ څخه اورېدلي چې:مؤمن په يوه خيټه خواړه خوري، او کافر په اوو خيټو.

حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله د دې حديث په شرحه کې ليکی: د مؤمن يوه ځانگړنه دا ده چې هغه د عبادت په خاطر کم خوراک کوي،خو کافر برعکس عمل کوي؛ځکه چې کافر د خپلو خواهشاتو پيرو دی او هميشه د خپلو شهوتونو پوره کولو په هڅه کې وي.له دې امله هغه د حرامو شيانو څخه نه ډاريږي.او که څه هم که لږ خوراک کوی دا په دی خاطر نه دی چې له دنيا سره يې علاقه نشته،بلکې دا کار د خپل صحت او سلامتی لپاره کوی.کافر لکه څنگه چې په (۷) اوو معدو خواړه خوري،دا د هغه دمينی او دنيا سره د علاقې له امله دی.خو مؤمن يوازې په يوه معده خواړه خوري. رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې مثال له لارې د مؤمن زهد او د کافر د دنيا سره د مينې او حرص وضعيت څرگندوي.فتح الباري

(c) ketabton.com: The Digital Library



شرح صحیح البخاری(۹/۵۳۹) -له نقل از شیخ علی صلابی

همدارنگه امام نووی رحمه الله د دې حدیث په شرح کې ویلي: داسې ویل شوي چې د اوو معدو څخه مراد د اوو ځانګړتیاو ذکر دی:حرص بی ځایه خبری،د زیاتې اشتها او د اوږدې مودې د تمایل او طمع، حسد نږدې والی او د ډوډی ډیر خوړلو له کبله چاغوالی.الشرح النووی في صحیح مسلم (۱۴/۲۳)

لوی صحابی عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمایي:«د هغه وخت څخه چې مسلمان شوی یم،زما خیټه هیڅکله ډکه شوې نه ده، ځکه چې نبي صلی الله علیه وسلم د پرخوري څخه منع کړی دی.

اسلام غواړي چې پیروان یې لږ وخوري،لږ ویده شي او لږې خبرې وکړي؛ خو زیات عمل وکړي. له همدې امله، کله چې د عبدالله بن عمر رضي الله عنه نوم یاد شي، محدثین د هغه په اړه وایي چې هغه هر حدیث چې له نبي صلی الله علیه وسلم څخه یې اوریدلی و،تر مرګه پورې یې پرې عمل کولو.

ابو عمران جونی وایي: هغه څوک چې غواړي زړه یې روښانه شي، نو باید په خپل خوراک کې کموالی راولي، یعنې لږ خواړه وخوري.

عثمان بن زائده وایي: ما ته سفیان ثوري یو لیک استولی و، چه په کې لیکلي یې و: که ته غواړې چې ستا بدن صحي او سالم پاتې شي او ستا خوب کم شي، نو په خپل خوراک کې کموالی راوړه، یعنې لږ خواړه وخوره.

امام شافعی رحمه الله وایی: «ما شعبت منذ ستة عشر سنة، لأن الشبع يثقل البدن، ويزيل الفطنة، ويجلب النوم، ويضعف صاحبه عن العبادة. تحفة الطلباء والعلماء(ص: ۱۳۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې: «تر شپارس کلونو پورې هیڅکله زما خېټه په خورو باندې نه ده ډکه شوې، ځکه چې کله خېټه ډکه شي:

- بدن دروند کېږي.

- په زړه کې سختي پیدا کېږي.

- عقل ضعیف کېږي.

- او خوب زیاتېږي.»

عائشه رضي الله عنها وايي: «اولین شی چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته پدید راغی، ډېر خوړل وو، ځکه کله چې یو قوم ډېره خوړله، د هغوی نفس دنیا ته میلان پیدا کوي.»د دې روایت سند ضعیف دی.

(۸)- باید خپلې هڅې په دې ولګوي چې د قرآن کریم د تفسیر حلقې او د دعوت غونډې ومومي.

یو عالم ویلي دي: څوک چې خپل وخت په روژه کې د الله تعالی په یاد،د قرآن په تلاوت، د اهل علم او نیکو کسانو سره په مجلسونو کې تېر کړي او له بېعقله او غافلو خلکو سره له ناستې ځان وساتي، نو د هغه زړه به نرم، سالم او د حق منلو لپاره چمتو شي.

ګرانه ملګریه، اجازه مه ورکوه چې دا روژه د قرآن د فهم او د خپل دین د ضروري مسائلو له زده کړې پرته ضایع شي.

(۹)- دا غوره ده چې یو مصحف ځان ته ځانګړی کړي او هغه په څو برخو ووېشي، ترڅو په دې مبارکه میاشت کې څو ځله د قرآن کریم ختم وکړي.

(۱۰)-باید کوشیش وکړي چې خپل شخصي کارونه د دې میاشتې له پیل څخه مخکې پای ته ورسوي، ترڅو د روژې په (۳۰) یا (۲۹) ورځو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان یوازې د الله تعالی عبادت ته وقف کړي.

(۱۱)- په روژه کې یوازې د الله تعالی عبادت د نارینه وو لپاره نه دی، بلکې ښځې هم مکلفې دي چې په بېلابېلو طریقو د رحمان عبادت وکړي. له همدې امله،یو مسلمان سړی باید هڅه وکړي چې خپلې کورنۍ لپاره ځانګړی وخت وټاکي، ترڅو هغوی هم دالله تعالی له عبادت څخه ګټه پورته کړي.

(۱۲)- له ټولو نه وړاندې باید یو کس ځان ته په جومات کې د اعتکاف ځای وټاکي او خپل نیت د هلته پاتې کېدو لپاره روښانه کړي.

(۱۳)- روژه د ښو کارونو او نېکو عملونو د ترسره کولو لپاره د یو بل سره د هڅې میاشت ده.نو یو شخص باید هڅه وکړي چې له نورو سره په نېکو کارونو کې سیالي وکړي.

حسن رضي الله عنه فرمایي: چې الله تعالی د روژې میاشت د مسابقې میدان په څېر ګرځولې ده،چې پکې نیک او پرهیزګاران خلک د خپلو عبادتونو او طاعاتو سره د الله تعالی د رضا ترلاسه کولو لپاره سیالي کوي.په دې میدان کې یو شمېر کسان د نورو کسانو نه مخکې کیږي او د ګټونکو په ډله کې شمیرل کیږي.ماه مبارک رمضان شهراه رستگاری ص۴۱

(۱۳)- که څوک مالي طاقت لري، باید د روژې له راتګ مخکې د عمرې لپاره ثبت نام وکړي، ځکه چې په حدیث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:{عُمَرَةٌ فِي رَمَضَانَ تَعْدِلُ حَجَّةً مَّعِي} متفق علیه

یعنې: عمره په روژه کې د هغه حج په معادل ده، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ترسره شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱۴) -یو کس باید خپلې ټولې هڅې دې ته وقف کړي چې هغه کارونه او اعمال مطالعه او بررسی کړي چې د ګناهو د بخښلو سبب کېږي،او بیا په روژه کې د خپلې ورځیا سره سم ټول دغه اعمال ترسره کړي،ځکه چې روژه هغه میاشت ده چې د انسان ګناهونه پکې معاف کېږي،البته په دې شرط چې یو کس خپله هڅه وکړي ترڅو ددی ګناهونه له منځه لاړ شي.

ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: رَغِمَ أَنْفُ رَجُلٍ دَخَلَ عَلَيْهِ رَمَضَانُ ثُمَّ انْسَلَخَ قَبْلَ أَنْ يُغْفَرَ لَهُ

یعنې: هغه کس بدبخته او خوار دی چې روژی ته ورسیږي، خو روژه پای ته ورسیږي او د هغه ګناهونه ونه ښښل شي (یعنې:د دې مبارکې میاشتې له رحمت څخه بې برخې پاتې شي).

په دی باره کی زما یو کتاب دی«چگونه میتوانیم گناهان صغیره وکبیره را محوه نمایم هغی» ته مراجعه وکری صحیح الترمذي (٣٥٤٥) شیخ الباني گفته: حدیث حسن و صحیح است.

شیخ نایف بن ممدوح بن عبدالعزیز وایي: د[رغم انف]اصطلاح د خوارۍ او ذلت کنایه ده، لکه څرنګه چې د [رغام] کلمه د خاورو په معنا ده، او دا اشاره ده هغه حالت ته چې انسان د ذلت او خوارۍ له امله داسې ښکاري لکه چې په خاورو کې لویدلی وي. الله تعالی دې موږ له دې ډول ذلت او خوارۍ څخه وساتي.

﴿وَمَنْ يُهِنِ اللَّهُ فَمَا لَهُ مِنْ مُكْرِمٍ﴾ [الحج: ١٨]

یعنې:هر هغه څوک چې الله خوار کړي، هېڅوک ورته عزت نه شي ورکولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام شوکاني رحمه الله وايي: روژه ځکه د رمضان په نوم يادېږي چې گناهونه سوځوي،يعنې د صالحو اعمالو په ترسره کولو سره گناهونه پکی له منځه ځی. فتح القدير ( ۲/۲۸۵)

(۱۵)- صدقه په روژه کې د نورو مياشتو په پرتله زيات اجر او ثواب لري،نو هڅه وکرئ چی د فقيرانو او مسکينانو احوال هم بايد پکې واخلي.

په ټوله کې هدف دا دی چې يو کس بايد مخکې له دې چې روژه پرې راورسيږي،په بشپړه تياري او د زړه له تله ښه راغلاست سره هغې ته هرکلی ووايي.

شايد څوک دا پوښتنه وکړي چې د روژی لپاره د تياري گټه څه ده؟نو زه تاسو ته وړانديز کوم چې لاندې موضوع هم مطالعه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل: سلف صالحین او دروژې لپاره تیاری

د.شیخ سعید بن عبدالله الحمید وایي: په دې مبارکه میاشت کې هغه نیک خلک چې په غوره زمانه کې یې ژوند کاوه،لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام او وروسته تابعین، چې رسول الله ﷺ د قرآن کریم ډېر تلاوت او خلکو ته د خواړو ورکولو کې دهغوی لپاره غوره الگو وو.هغوی د شپې عبادت ته دومره لیواله وو چې خپلې شپې به یې د عبادت په کولو ژوندۍ ساتلې.د دې عبادت له امله به حتی د هغوی پښې پړسېدلې.په دې مبارکه میاشت کې به هغوی خپل عبادات، خیراتونه او صدقات...نور هم زیات کړل.انتهی

وروره، د روژې د میاشتې استقبال د گلونو وړاندې کولو،د اناشیدو خپرولو او شورماشور سره مطلوب نه دی.د روژې اصلي استقبال دا دی چې خپلې گناوې دې په یاد راوړې،د ریښتینې توبې کولو هوډ وکړې، او له زړه څخه کینه او حسد وباسې.که دې د چا غیبت کړی وي،باید ورڅخه معافي وغواړې؛له مظلوم څخه د بښنې غوښتنه وکړې،د زړه څخه سختي لرې کړې،د مسلمان ورور په اړه خپل گومان نیک کړې،او هغه څه چې الله تعالی پرې ناخوښ دی، له خپل ژوند څخه لرې کړې.[دا د روژې میاشتې ریښتینی استقبال دی]

گرانه ملگریه،پخوانیو نیکو خلکو د روژې لپاره هم قولاً او هم عملاً تیاری نیوله.دوی به د دې مبارکې میاشتې په رانږدې کېدو سره خپل دوکانونه تړل،د احادیثو درسونه به یې موقتې درول، او د لیکلو او کتابت چارې به یې ځنډولې.دوی خپل ټول وخت او هڅې یوازې د دې مبارکې میاشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره وقف کولو ترڅو د روژې اصلي برکتونه او روحاني لذتونه ترلاسه کړي.

حافظ ابن رجب رحمه الله وايی: کان عمرو بن قیس الملائي، اذا دخل شعبان أغلق حانوته وتفرغ القراءة القرآن. (الطائف المعارف )

یعنی: کله چې به د شعبان میاشت پیل شوه،عمر بن قیس به خپل دوکان بندکرو او ځان به يې په بشپړ ډول د قرآنکریم تلاوت ته وقف کولو.

قطعاً،ویلای شو چې د روژی دمیاشت په شان هیڅ یوه میاشت نه ده،چې سلف صالحین هغې ته دومره اهمیت ورکړی وي چې خپل ځانونه ئی د هغې میاشتې سره تړلي ګڼلي وي، ځکه چې روژه د اسلام بنسټ پوره کوي، د هغې خاوند ته د قیامت په ورځ شفاعت کوي،اجر يې الله تعالی ورکوي، او هغه خوشحاله کوي.روژه د انسان زړه له کینې او وسوسو پاکوي،د هغه دعاګانی قبلیږی،د آسمان او جنت دروازې دهغی پر مخ پرانیستل کیږي،د جهنم دروازې تړل کیږي،هغه له شیطان څخه ساتل کیږي،او جنت ته د ځانګړي دروازې څخه ورننوځي.همدارنګه د هغه د خولې بوی د عطر او مشک څخه هم الله تعالی ته خوښ او معززه ګڼل کیږي.د بدن زکات يې د روژې په نیولو سره ادا کیږي،او په پای کې، که هغه په دې حالت کې مړ شي،دشهادت مقام ترلاسه کوي.دا ټولې خبرې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو لنډیز دی چې ما په خپل کتاب(چهل حدیث در مور رمضان) کې ټول کړي دي.

امام ابن جوزی رحمه الله وايی: «نالله لو قبل الأهل القبور تمنوا لتمنوا یوماً من رمضان».

یعنی: قسم په الله تعالی، که مړو ته و ویل شي:آرزو وکړئ، نو د رمضان دیوی ورځې غوښتنه به کوي.

همدارنګه امام ابن جوزی رحمه الله وايی:«مثل شهور الاثنی عشر،

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمثل أولاد يعقوب، وكما أن يوسف أحب أولاد يعقوب إليه، كذلك رمضان أحب الشهور إلى الله»

مفهوم يې دا دی چې: د روژې میاشت د نورو میاشتو په پرتله،لکه یوسف علیه السلام د خپلو نورو ورونو په پرتله دی، څکه لکه څنګه چې یوسف علیه السلام د یعقوب علیه السلام تر ټولو محبوب زوی و،روژه هم د الله تعالی تر ټولو محبوبه میاشت ده.

هو،لکه څنګه چې موږ مخکې وویل،د روژی میاشت د پخوانیو نیکو خلکو لپاره د لوړ مقام لرونکې وه، او هره لحظه یې د دې میاشتې د راتلو انتظار کاوه. کله چې به روژه راغله، دوی هره دقیقه له دې میاشتې څخه په بشپړه توګه ګټه اخیستله.امام معلی بن فضل رحمه الله وایی:کانوا یدعون الله تعالى ستة أشهر أن يبلغهم رمضان، ثم يدعونه ستة أشهر أن يتقبل منهم..»لطائف المعارف (ص۲۰۰)

یعنې: سلفو صالحینو شپږ میاشتې الله سبحانه وتعالی ته دعا کوله چې الله تعالی ورته روژه ور وبخښي، او شپږ نورې میاشتې به یې دعا کوله چې الله تعالی د روژې په مبارکه میاشت کې د دوی عبادات، صالح عملونه، روژه، د قرآن تلاوت او صدقات قبول کړي.

عمر بن الخطاب رضي الله عنه کله به چې د روژې میاشت رانږدې کېدله،ویل به یې:څومره ښایسته ده چې دا فکر د شعبان په پای کې زموږ په زړونو کې ځای ونیسي.

تابعی امامان لکه یحیی بن ابی کثیر او مکحول شامی کله چې به د روژی میاشته رانږدې کېدله،داسې دعا به یې کوله:اللَّهُمَّ سَلِّمْنِي لِرَمَضَانَ، وَسَلِّمْ رَمَضَانَ لِي، وَتَسَلَّمْهُ مِنِّي مُتَقَبَّلا.

یعنی: «اې الله! ما روژی ته جور ورسوه،او روژه مې له ګناهونو او لغوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کارونو خوندي کړه،او هغه زما څخه ومنه او په خير سره يې قبول کړه.»حلية الأولياء.

شيخ عبدالعزيز طريفی وايي:مؤمن انسان لکه د يو ورک شوې قيمتي شی په څير روژه لټوي او هميشه د دې فکر کوي چې هيڅکله يې له لاسه ورنکړي او د هغه له بيا ګټې اخيستو څخه محرومه نشي.

«ای الله! موږ روژې ته صحيح او سالم ورسوه، او موږ ته توفيق راکړه چې دا مياشت په صحتمندۍ د عبادت، طاعت او نيک عملونو کولو سره پای ته ورسوه.

هر څوک چې د روژې په مياشت کې خپل بدۍ او ګناهونه زيات کړي،دا د دې نښه ده چې د هغه شر او بدۍ د شيطان څخه زياته ده.

ځکه چې ځينې انسی شيطانان دجنی شيطانانو څخه ډېر ګمراه کوونکي او شرير وي.

ځکه چې ځينې انسی شيطانان دجنی شيطانانو څخه ډېر ګمراه کوونکي او شرير وي.

په حقيقت کې تر ټولو ستر محروم هغه څوک دی چې د روژې مياشتې استقبال د ګناهونو او نافرمانيو سره کوي،په داسې حال کې چې نور خلک د دې مبارکې مياشتې هرکلی د عبادتونو او نيکو عملونو په ترسره کولو سره کوي.

او تر ټولو زيانمن انسان هغه دی چې له داسې بازار څخه په تشو لاسونو او زيان سره ووځي چې ټول پکې ګټه ترلاسه کوي.

او بريالی او خوشبخته هغه څوک دی چې په روژه کې ځان د عبادت لپاره وزګار کړي،او بدبخته او محروم هغه څوک دی چې ځان د ګناه لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزګار کړي.

لومړی کس خپل پروردګار ته مخه کړې، او دويم کس د هغه ناشکري او نافرماني ته مخه کړې ده.يعنې په داسې حال کې چې د جنت دروازې پرانيستل شوې دي،هغه د دوزخ دروازې ټکوي.

تر ټولو سترې او پراخې دروازې د جنت په روژه کې پرانيستل کېږي؛

د رحمت دروازې پکی خلاصې دي، نو وړاندې شئ او دننه شئ،ځکه دروازې ټکولو ته اړتيا نشته.

يو له پخوانيو صالحينو څخه وايي:دنيا د متقيانو لپاره ټول عمر د روژې مياشتی په شان ده،ځکه دوی په هغې کې له حرامو شهوتونو څخه ځانونه روژتي ساتي.نو کله چې مرګ ورشي، د دوی د روژې مياشت پای ته رسېږي، او د دوی داختر ورځ پيلېږي.[الطائف المعارف]

## دوه کيسی

لومړۍ کيسه:

چا احنف بن قيس ته وويل:ستا عمر ډېر زيات شوی دی او د روژې نيول دې کمزوری کوي؟

پوهيږی احنف څه ځواب ورکړ:د الله تعالی د طاعت په مقابل کې صبر کول، د هغه د عذاب په مقابل کې د صبر کولو نه ډېر اسان دی.

دوهمه کيسه:

يو کس دسلف وويل چې ابراهيم بن هاني رحمه الله ډېره روژه نيوله،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ان تر دې چې عمر يې زيات شو.يوه ورځ د مازيګر په وخت کې د هغه اجل ورسېد. د مرګ په حال کې يې خوله او ژبه وچه شوې وه،ويې ويل:زه تږى يم. زوى يې ورته اوبه راوړې.کله چې يې اوبه خپلو شونډو ته پورته کړې،ناڅاپه يې يوه خبره په ياد شوه،ويې پوښتل:آيا لمر ډوب شوى دى؟

زوى يې وويل:نه!

ابراهيم اوبه له خولې لرې کړې او نه يې غوښتل چې خپله روژه ماته کړي.زوى يې اوبه په لاس کې نيولې وې او د مغرب وخت ته انتظار و.ابراهيم چوپ پاتې شو،بيا يې دا آيت تلاوت کړ:

{لِمِثْلِ هَذَا فَلْيَعْمَلِ الْعَامِلُونَ}

[صافات:٦٢]ژباړه: د همدې لپاره دې عمل کوونکي عمل وکړي.

وروسته يې د شهادت کلمه وويله او روح يې خپل خالق ته وسپاره.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:د روژې راتګ او خوښي

کله چې به د روژې میاشت راغله،د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اصحاب خوشحاله کیدل او یو بل ته یې د دې مبارکې میاشتې د راتلو زیرې ورکولو.د هغوی په مخونو کې به د خوشحالي او خندا آثر ښکاره کیدلو.

علامه ابن رجب رحمه الله وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به د روژې میاشتې د راتلو زیرې خپلو اصحابو ته ورکولو.الطائف المعارف (۲۷۹)

احتمالاً سلف صالحین به د روژې د راتګ له امله دومره خوشحاله وو چې د ځمکو د فتح کولو یا د پوځی عملیاتو په اړه به دومره خوشحاله نه وو.

ابوهریره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو صحابو ته د روژې میاشتې د راتګ زیرې ورکولو او ویل به یې:قد جاءکم شهر رمضان شهر مبارك، كتب الله عليكم صيامه، فيه تفتح أبواب الجنة وتغلق فيه أبواب الجحيم، وتغل فيه الشياطين، فيه ليلة خير من ألف شهر، من حرم خيرها فقد حرم.صحیح الترغیب (۱/۴۹۰)

یعنې:د روژې میاشت راغله،دا یوه برکتي میاشت ده،الله تعالی په تاسو د دې میاشتې روژه فرض کړې ده.په دې میاشت کې د جنت دروازې خلاصیږي، د دوزخ دروازې بندیږي، او شیطانان په زنځیرونو تړل کیږي.په دې میاشت کې یوه شپه ده چې له زرو میاشتو څخه غوره ده.څوک چې د دې خیر څخه محروم شي،هغه له هر خیر څخه محروم شو.

د.شیخ سعید بن عبدالله الحمید وایي، کله به چې د روژې میاشت راورسیده، عمر رضی الله عنه به ویل:زیرې دې وي د هغې میاشتې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زموږ دګناهونو دبښخلو سبب کیږي.

هو،څنګه به مؤمن د دې میاشتې په راتګ خوشحاله نه شي،په داسې حال کې چې د هغه لپاره د جنت دروازې پرانستل کیږي،او څنګه به ګناهګار خوشحاله نه شي،په داسې حال کې چې د هغه لپاره د دوزخ دروازې تړل کیږي،او عاقل څنګه کولی شي چې په دې مبارکه میاشت کې خپل وخت ضایع کړي،په داسې حال کې چې شیطانان په زولنو تړل شوي دی.

## فصل:د روژې د نیولو هدف

(c) ketabton.com: The Digital Library



روژه ډېر حکمتونه لري،یو له هغو ټولنیزو حکمتونو څخه ئې دا دی چې کله شتمن او توانمند د روژې په میاشت کې د لوږې خوند وځکي،نو په نورو میاشتو کې به هېڅکله بېوزله او اړمن هېر نه کړي.

په همدې اړه امام ابن رجب رحمه الله داسې فرمايلي دي:سئل بعض السلف لم شرع الصيام؟ قال: ليذوق الغنى طعم الجوع، فلا ينسى الجائع».الطائف المعارف، لابن رجب (١٦٨).

ژباړه:له ځینو سلفو څخه پوښتنه وشوه چې ولې په اسلام کې روژه مشروع شوې؟هغوی وویل: ترڅو شتمن د لوږې خوند وڅکي او هېڅکله وږی انسان هېر نه کړي.

## فصل:ذهبی فایده

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام زهري رحمه الله فرمايي(التسبيحة في رمضان، أفضل من ألف تسبيحة في غيره).فضائل الرمضان لإبن الدينار(٥١)

د روژی په مياشت کې يو ځل سبحان الله ويل د غير رمضان په پرتله زر چنده زيات اجر لري.

همدارنگه شيخ عبدالعزيز بن باز رحمه الله وايي:په روژه کې گناه کول د غير روژې په پرتله لويه گناه ده.١٥/۴۴٦

نو، ای عزتمنده ملگريه! هڅه وکړه چې په روژه کې نيک عملونه ډېر کړئ ترڅو الله تعالی هم خپل انعامونه په زياته کچه درکړي او له گناهونو او معاصيو څخه ځان وساتئ،ځکه چې گناه کول په روژه کې د نورو مياشتو په پرتله ډېر زيات فرق لري.

## فصل:د سلف صالحينو سپارښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځینو سلفو ویلی دی:د دنیا څخه روژه ونیسه او د مرګ په وخت کې خپل افطار وکړه. ځینو سلفو به ویل:دنیا د متقیانو او مؤمنانو لپاره د روژې میاشت ته ورته ده.هغوی په دې نړۍ کې د روژې په څېر د شهواتو،حرامو اعمالو،ناسمې وینا او ناروا کرنو څخه ځان ساتي.د هغوی د افطار وخت د مرګ شېبه ده،او قبر یې داختر ورځ ګڼل کېږي.

همدارنګه بعضو سلفو صالحینو به ویل:په روژه کې له خوراک او څښاک څخه ځان ساتل آسان دي،خو ستونزمن کار د ژبې له بې ګټې خبرو او نفساني غوښتنو څخه ځان ساتل دي.په همدې اړه رسول الله ﷺ فرمایلي دي:(من لم یدع قول الزور والعمل به فلیس الله حاجة في أن یدع طعامه وشرابه».رواه البخاري وجامع الاحادیث الصحیح (۳۸۱)

یعنې:هغه څوک چې له باطلو خبرو او د هغو د ترسره کولو څخه لاس وانخلي،لله تعالی ته د دې اړتیا نیشته چې هغه له خوراک او څښاک څخه ځان وساتي.

ځینو سلفو صالحینو ویلي دي:خپل غوږونه او سترګې هم باید روژه کی د ګناهونو نه وساتل شي.

خپل غوږونه د روژې په حالت کې وساته او د هغوی له لارې د لهو، لعب او د دروغو خبرې مه اوره.

خپل ژبه هم روژه نیوونکی کړه،دروغ مه وایه،له غیبته ځان وساته، له بدو الفاظو ځان وژغوره،او له غیر شرعي خبرو او اعمالو څخه ډډه وکړه.

## فصل: زموږ حال په روژه کې!

په داسې حال کې چې روژه د رحمت، مغفرت،او برکت میاشت ده،خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ حال پکې داسې ښکاري لکه ابلیس چې یوولس میاشتې زموږ د گمراهۍ لپاره کار کړی وي او په روژه کې کامیاب شي!

(۱)-په روژه کې بې ځایه لوبې،د وخت ضایع کول او مختلف ډول گیمونه زیاتیږي،ترڅو د لوږې احساس ونه کړو.

(۲)-ددې لپاره چې ورځ زر تېره شي.د ورځې زیاته برخه په خوب تېروو.

(۳)-د غیبت مجلسونه اوږدېږي، ترڅو د وخت دتېریدو احساس ونه کړو.

(۴)-په کورنۍ کې بد چلند او د غصې څرگندونه زیاتېږي.

(۵)-په افطار او سحري کې زموږ اسراف د نورو میاشتو په پرتله څو چنده ډېرېږي.

(٦)-شپه د ماهواره یې سریالونو په لیدلو تېریږي!

همداسې زموږ حال له روژې سره دوام لري.تاسو خپله قضاوت وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فصل:په روژه کې کوم کارونه وکړو چې د قیام اللیل له فضیلت څخه محروم نه شو؟

ګرانه ملګریه، د روژې اصلي خوند د ورځې په روژه او د شپې په ژنده دارۍ کې دی.که په دې دوو کې یو هم له لاسه ورکړې،پوه شه چې ډېر خیر دې له لاسه ورکړی دی.

(۱)-د ډېر خوړلو او څښلو څخه د افطار په وخت او تر هغې وروسته ځان وساته،ځکه چې کله معده ډکه شي، نو خوب پرې واکمني کوي،او په دې توګه به انسان د قیام اللیل له برکت څخه محروم شي.

(۲)-د روژې په ورځو کې ځان په بې ګټې کارونو مه بوختوه.

(۳)-د ورځې قیلوله مه پرېږده، ځکه قیلوله انسان ته راحت ورکوي او هغه د قیام اللیل لپاره چمتو کوي.

په صحیح حدیث کې راغلي چې: ”قیلوا، فإن الشیطان لا یقیل“ یعنې: قیلوله وکړئ، ځکه شیطان قیلوله نه کوي.

لکه څنګه چې مو مخکې ذکر کړی وه،یو کس ابراهیم بن ادهم رحمه الله ته وویل:ما ته داسې درمل وښایه چې د قیام اللیل کولو توان پیدا کړم.

ابراهیم بن ادهم ورته وفرمایل:د ورځې د الله تعالی نافرماني مه کوه، نو الله به تا د شپې خپل ځان ته ودروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:هغه کتابونه چې د قیام اللیل په اړه لیکل شوي دي:

مخکې له دې چې د سلف صالحینو د قیام اللیل حال بیان کړم، ځینې هغه کتابونه درته یادوم چې د قیام اللیل په اړه لیکل شوي دي.که تاسو د شپې عبادت په اړه احکامو او مسائلو ته اړتیا ولرئ، نو کولی شئ دغو کتابونو ته مراجعه وکړئ:

دلته د قیام اللیل په اړه لیکل شوي کتابونه یاد شوي دي:

۱. صلاة اللیل (فارسي ژباړه هم لري)

لیکوال: شیخ عطیة

ناشر: سایت عقیده

۲. احکام قیام اللیل

لیکوال: سلیمان بن ناصر بن عبد الله العلوان

ناشر: دار الإیمان

۳. کیف تتحمس لقیام اللیل

لیکوال: إبراهیم سرحان

ناشر: المکتبة الشاملة\

۴. کتاب التهجد وقیام اللیل

لیکوال: أبو بکر عبد الله بن محمد بن عبید بن سفیان بن قیس القرشي

ناشر: مکتبة الرشید

۵. فضل قیام اللیل والتهجد

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکوال: ابو بکر محمد بن الحسين الأجرى (٣٦٠ هـ)

ناشر: عبد اللطيف بن محمد الجيلاني الأسفي

٦. قيام الليل فضله وآدابه، والأسباب المعينة عليه في ضوء الكتاب والسنة

لیکوال: د. سعيد بن على بن وهف القحطاني

ناشر: المكتبة الشاملة

٧. مختصر قيام الليل

لیکوال: محمد بن نصر المروزي

ناشر: المكتبة الشاملة

٨. قيام الليل

لیکوال: د. محمد بن ابراهيم

٩. كتاب التهجد وقيام الليل

لیکوال: امام ابن حجر

ناشر: دار الكتب العلمية

١٠. مسائل صلاة الليل

لیکوال: شيخ فوزان

ناشر: دار ابن جوزى

١٠. قيام الليل

لیکوال: امام ابن جوزى

ناشر: دار المحدث

او داسې نور کتابونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:قیام اللیل او د سلف صالحینو لمونځونه په روژه کې

کله چې د رسول الله ﷺ او د هغه د اصحابو ژوند ته ژوره کتنه وکړو، نو پوهېږو چې هغوی په خپل ټول ژوند کې قیام اللیل نه دی پرېښی.په حقیقت کې، د هغوی د خوشبختۍ او نېکمرغۍ راز د شپې په تیاره کې د عبادت په ادا کولو کې و.

مونځ د ورځې په هر وخت کې ثواب لري،خو د شپې، په ځانګړي ډول په روژه کې،د سلف صالحینو له غوره صفاتو څخه شمېرل کېږي.

په دې بحث کې به،إن شاءالله، د دشپې عبادت په اړه د سلف صالحینو ۷۵ اقوال او عملونه،(او د ځینو معاصرینو نظرونه)بیان کړم.

(۱)-شیخ بسام عطیه فرج وایي: صالحینو به ویل: په دنیا کې هېڅ خوند د آخرت له نعمتونو سره برابر نه دی، پرته له هغه خوږ خوند څخه چې د شپې د عبادت کوونکو په زړونو کې پیدا کېږي.نو هڅه وکړئ چې دغه خوند وڅکئ.

(۲) - شیخ عبدالعزیز طریفي وایي:په روژه کې درې فرصتونه شته چې الله تعالی یوازې د هغوی په وسیله مخکینۍ ګناهونه بښي:

۱. د روژې نیول

۲. د شپې قیام

۳. د لیلة القدر قیام.

که څوک دا درې سره یو ځای ترسره کړي،د هغه د مغفرت سبب به ډېر لوی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۳) -گرانه ملگريه! رسول الله ﷺ به د دشپې د لمانځه دومره پابندو چې كله به يې هير يا ويده شو، نو د ورځې به يې قضايي ادا كوله.عائشه رضی الله عنها فرمايي:كان إذا نام من الليل أو مرض صلى، من النهار ثنتي عشرة ركعة» (رواه مسلم)

ژباړه: د پيغمبر ﷺ څخه به چې كله د خوب يا ناروغۍ له امله دد شپې لمونځ پاتی شو، نو د ورځې به يې دولس ركعاته لمونځ كاوه.

(۴) -حافظ ابن حجر رحمه الله وايي:د پيغمبر ﷺ تهجد لپاره خاص وخت نه و ټاكل شوی،بلكې كله به چې ورته ممكنه شوه،لمونځ به يې كاوه.

(۵) - ابو امامه رضی الله عنه د رسول الله ﷺ څخه روايت كوي، هغه فرمايي:عَلَيْكُمْ بِقِيَامِ اللَّيْلِ فَإِنَّهُ دَأْبُ الصَّالِحِينَ قَبْلَكُمْ ...(ترمذی حاكم،وجامع الفوايد

ژباړه:پر ځان د شپې عبادت لازم كړئ، ځكه دا د هغو نېكانو عمل دی چې تر تاسو مخكې تېر شوي دي.

(٦)-دا خبره بايد پټه پاتې نه شي چې د قيام او تهجد لپاره اجر او ثواب يوازې هغه مهال ترلاسه كېږي چې يو كس په دوامداره توگه دا عبادت ترسره كوی او د خپل ټول ژوند لپاره پرې عمل كوی. كه څوك يوه شپه تهجد وكړي او بله شپه د سستي يا تنبلۍ له امله ئی پرېږدي،نو هغه ته اجر نه وركول كېږي. عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنهما روايت كوي چې رسول الله ﷺ ماته وفرمايل:يا عبد الله، لا تكن مثل فلان كان يقُومُ اللَّيْل فترک قيام الليل » ... :بخاری ۱۱۵۲

ای عبدالله، د فلاني په څېر مه اوسه چې د شپې لمونځ به يې كاوه، خو بيا يې پرېښود.(بخاري: ۱۱۵۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۷)-هغه څوک چې د شپې لمونځ نه کوي،قيام او تهجد ته عادت نه لري، او يوازې سهار ويښېږي، بايد پوه شي چې شيطان د هغه ملگرى دى.مسلم او بخاري د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روايت کړى دى چې د رسول الله ﷺ په حضور کې د يو سړي يادونه وشوه چې تر سهاره خوب کوي.رسول الله ﷺ وفرمايل:«ذاک رجل بال الشيطان في أذنيه»دا هغه کس دى چې شيطان يې په غوږونو کې ناپاکي کړې ده.

(۸)-دا بايد په پام کې ونيول شي چې د شپې لمونځ ادا کول د انسان د ستاينې او فضيلت سبب گرځي، او صادق المصدوق (رسول الله ﷺ) د داسې شخص تعديل کړى دى. سالم بن عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د خپل پلار څخه روايت کوي چې رسول الله ﷺ د هغه پلار ته وفرمايل:«نعم الرجل عبد الله لو کان يصلى من الليل».

عبدالله څومره ښه سړى دى، که د شپې لمونځ وکړي.

سالم وايي: له دې وروسته عبدالله رضي الله عنه د شپې يوازې لږ وخت خوب کاوه.

(۹)-سنت دا ده چې د کورنۍ مشر او سرپرست بايد خپله کورنۍ د قيام او د شپې د لمانځه لپاره راويښه کړي. عمر رضي الله عنه به د شپې لمونځ کاوه، کله چې به نيمه شپه شوه،خپلې کورنۍ ته به يې غږ کولو او وى ويل:اى زما کورنۍ! لمونځ، لمونځ!

او دا آيت به يې تلاوت کاوه:

﴿وَأْمُرْ أَهْلَكَ بِالصَّلَاةِ وَاصْطَبِرْ عَلَيْهَا لَا نَسْأَلُكَ رِزْقًا نَحْنُ نَرْزُقُكَ وَالْعَاقِبَةُ لِلتَّقْوَى﴾ [طه: ۱۳۲].

ژباړه:او خپلې کورنۍ ته د لمانځه امر وکړه او په دې باندې صبر کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور له تا څخه روزي نه غواړو، بلکې موږ تا ته روزي درکوو، او د پایلې نېکمرغي د پرهیزګارانو لپاره ده.

(۱۰)-د سیدنا عثمان بن عفان رضي الله عنه په ژوند کې لولو چې هغه به هم خپله کورنۍ د عمر رضي الله عنه په څېر د شپې د لمانځه لپاره راویښه کوله.

(۱۱)-نافع وایي: ابن عمر رضي الله عنه به د روژې په میاشت کې په خپل کور کې و.کله چې به خلک له جومات څخه ووتل،ابن عمر رضي الله عنه به له کوره د اوبو یوه کاسه واخیسته او جومات ته به لاړ.هغه به د سهار تر لمانځه پورې په جومات کې پاتې کېدلو او له جومات څخه به نه راوتل. اخرجه البیهقی

(۱۲)-عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمایلي دي:درې شیان دي چې پرته له هغو زه په دې دنیا کې پاتې کیدل نه خوښوم؛له هغو څخه یو د شپې په تیاره کې پاڅېدل او د الله عزوجل عبادت کول دي.صلاة اللیل شیخ عطیه

(۱۳)-همدارنګه، که مېږه د شپې د عبادت کولو عادت لري،نو خپله مېرمنه دې هم د قیام اللیل لپاره ویښه کړي،او برعکس،که مېرمنه د شپې دعبادت کولو عادت لری،نو خپل خاوند دې هم ویښ کړي.

ابو هرېره رضی الله عنه روایت کوي چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي:رَحِمَ اللَّهُ رَجُلًا قَامَ مِنَ اللَّيْلِ، فَصَلَّى وَأَيْقَظَ امْرَأَتَهُ، فَإِنْ أَبَتْ نَضَحَ فِي وَجْهِهَا الْمَاءَ، وَرَحِمَ اللَّهُ امْرَأَةً قَامَتْ مِنَ اللَّيْلِ، فَصَلَّتْ وَأَيْقَظَتْ زَوْجَهَا، فَإِنْ أَبَى نَضَحَتْ فِي وَجْهِهِ الْمَاءَ.» (رواه ابو داود)

ژباړه:الله دې په هغه سړي رحم وکړي چې د شپې له خوبه پاڅېږي،لمونځ وکړي او خپله مېرمن هم د قیام لپاره ویښه کړي.که هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویښه نه شوه، نو په نرمه یې په مخ اوبه وشیندې.او الله دې په هغې ښځې رحم وکړي چې د شپې پاځېږي،لمونځ وکړي او خپل مېړه د قیام لپاره ویښ کړي.که هغه ویښ نه شو،نو په مخ یې اوبه وشیندې.

(۱۴)-ممکن تاسو وپوښتئ:ولې د کور سرپرست باید خپل اهل د شپې د قیام لپاره ویښ کړي؟دې حدیث ته دقت وکړئ:

ابو هریره او ابو سعید رضی الله عنهما روایت کوي چې رسول الله ﷺفرمایلي دي:إذا أیقظ الرجل أهله من اللیل فصلیا أو صلی رکعتین جمیعاً، کتب في الذاکرین والذاکرات.» (رواه أبو داود)

ژباړه:هرکله چې سړی خپله مېرمن د شپې له خوبه ویښه کړي،او دواړه یو ځای دوه رکعته لمونځ وکړي -یا یوازې سړی لمونځ وکړي-نو دواړه به د الله تعالی د ذکر کوونکو (ذاکرینو او ذاکراتو) په ډله کې ولیکل شي.

(۱۵)-لازمه نه ده چې انسان ټوله شپه عبادت وکړي،بلکې باید د شپې یوه برخه د عبادت لپاره ځانګړې کړي. ابوهریره رضی الله عنه فرمایي:إني لأجزئ اللیل ثلاثة أجزاء، فثلث أنام، وثلث أقوم، وثلث أتذکر أحادیث رسول الله صلی الله علیه وسلم.» (سنن الدارمي،۲۷۲)

ژباړه:زه شپه په درې برخو وېشم:

په یوه برخه کې ویده کېږم،

په دویمه برخه کې قیام اللیل کوم،

او په درېیمه برخه کې د رسول الله ﷺ داحادیثو تکرار کوم.

(۱٦)-ربیع بن سلیمان وایي:امام شافعي رحمه الله خپله شپه په درې برخو وېشلې وه:

په لومړۍ برخه کې به یې لیکل کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دويمه برخه کې به يې لمونځ کاوه.

او په دريیمه برخه کې به ويده کېدو.

امام ذهبي رحمه الله وايي:د هغه درې واړه کړنې د نېک نيت له امله عبادت ګڼل کېږي.تهذيب سير أعلام النبلاء ۲/۸۴۸

(۱۷)-يوه ورځ مالک اشتر نخعی رحمه الله د شپې په وخت کې د امير المؤمنين على رضى الله عنه خدمت ته لاړ او هغه يې د لمونځ په حالت کی وليدو.مالک وويل:ای امير المؤمنينه،ته د ورځې روژه نيسي، او د شپې عبادت کوې،او د طاقت نه پورته کارونه هم ترسره کوې؟

کله چې لمونځ بشپړ شو، امير المؤمنين على رضى الله عنه ورته وفرمايل: آخرت يو اوږد سفر دی،او د دې سفر د تيريدلو لپاره د شپې عبادت ته اړتيا ده. لطائف المعارف

(۱۸)-سلمان فارسی رضی الله عنه وايي:«د شپې لمونځ په خپل ځان باندې لازم کړئ، ځکه چې د شپې زنده داری د هغو نيکانو طريقه وه چې تاسو نه مخکې وو؛دا کار تاسی خپل پروردګار سره نږدې کوي،ستاسو ګناهونه بخښل کيږي،له ګناه کولو څخه مو منع کوي او د بدن څخه ناروغي ليرې کوي.»دشيخ بسام عطيه دکتاب څخه

(۱۹)-فضيل بن عياض رحمه الله فرمايي: «کله چې لمر ولوېږي او تياره شي،زه خوشحاله کېږم ځکه په دې تياره کې له خپل رب سره خلوت کوم. او کله چې لمر راوخيژي، غمګين کېږم ځکه چې د خلکو د اختلاط د تګ او راتګ وخت را رسېږي.»کتاب شيخ بسام عطيه فرج (ددشپی مونځ)

(۲۰)-ابوسليمان رحمه الله فرمايي:د شپې عبادت کوونکي د شپې په هغه شيبو کې چې په عبادت کې يې تېروي، له هغو کسانو څخه ډېر خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخلي چې په لهو او لعب کې بوخت وي.او که شپه نه وای،مونږ به په دې دنیا کې پاتې کېدل نه خوښول.».کتاب شیخ بسام عطیه فرج (ددشپی مونځ)

(۲۱)-محمد بن المنکدر رحمه الله فرمایلي دي:د دې دنیا له خوندونو څخه یوازې درې خوندونه پاتې دي:د شپې عبادت کول، د ایماني ورونو سره لیدنه،او د جماعت لمونځ.»کتاب شیخ بسام عطیه فرج (ددشپی مونځ)

(۲۲)-حذیفه رضی الله عنه روایت کوي: یوه شپه مې له رسول الله ﷺ سره لمونځ وکړ. هغه ﷺ قرآن په ډېر روان او آرام تلاوت کاوه.کله چې به د تسبیح آیت ته ورسېد،«سبحان الله» یې ویله. کله به چې د رحمت آیت ته ورسېد،د الله تعالی څخه یې د رحمت غوښتنه کوله،او کله چې به د عذاب آیت ته ورسېد،الله تعالی ته به یې پناه ورله.رواه مسلم

(۲۳)-د پیامبر صلی الله علیه وسلم یو صحابي،قتاده بن نعمان رضی الله عنه، د قرآن کریم د یو {قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ}آیت تلاوت او تکرار په یو شپه کی کولو.رواه البخاری

(۲۴)-سعید بن عبید الطائی وویل:ما اوریدلي چې سعد بن جبیر به د روژی په میاشت کې امامت کاوه او ددغه آیت تکرار به یې ډیر کولو:

فَسَوْفَ يَعْلَمُونَ إِذِ الْأَغْلَالُ فِي أَعْنَاقِهِمْ وَالسَّلَاسِلُ يُسْحَبُونَ فِي الْحَمِيمِ ثُمَّ فِي النَّارِ يُسْجَرُونَ (غافر: ۷۰-۷۲)

یعنې ډېر ژر به پوه شي، کله چې زنجیرونه د دوی په غاړونو وي او دوی به د تودو اوبو په لور کشول کیږي، وروسته بیا په اور کې سوځول کیږي.

(۲۵)-«قاسم وایي چې ما سعید بن جبیر رضی الله عنه ولیدل،چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه یې د قرآن کریم د{وَاتَّقُوا يَوْمًا تُرْجَعُونَ فِيهِ إِلَى اللَّهُ ثُمَّ تُوَفَّى كُلُّ نَفْسٍ مَا كَسَبَتْ}بقره ۲۸۱ آیت تلاوت کولو.

د هغې ورځې له رسوایۍ او کړاؤ څخه ځان وژغورئ چې د الله لوري ته ورستنېږي هلته به هر چا ته د هغه د کړي نېکۍ یا بدۍ پوره بشپړه بدله ورکړه شي او پر هیچا به هیڅکله تېری (ظلم) ونشي.

سعید بن جبیر دا آیت شاوخوا شل یا څو ځل نور تکرار کرو.

(۲۶)-«یو سړي چې کنیه یې ابو عبدالله وه او د قیس له قبیلې څخه و،وویل: یوه شپه موږ د حسن رضی الله عنه سره وو،

هغه د شپې د نفل لمونځ لپاره ویښ شو او په لمونځ کې یې په دوامداره د [وَإِنْ تَعُدُّوا نِعْمَتَ الله لا تُحْصُوهَا] آیت تکرار کولو.

یعنی:او که تاسو د الله تعالی نعمتونه شمارئ، نو تاسو نه شئ کولی چې هغوی شمار کړئ.

کله چې سهار شو،موږ له هغه څخه پوښتنه وکړه چې ولې یوازې ددغه آیت تکرار دی کولو؟ حسن رضی الله عنه ځواب ورکړ:ما غوښتل په دې آیت کې تدبر او فکر وکړم، ځکه چې هر ځل چې دا تکرار کوم،د الله تعالی هغه نعمتونه یادوم چې په حقیقت کې شمېرل کیږی نه.کتاب الذکار فی فضل الأذکار قرطبی

(۲۷)-«عطاء رحمه الله وایي چې زه او عبید بن عمیر د عایشه رضی الله عنها خدمت ته لارو.عبید بن عمیر ورته وویل:تر ټولو عجیبه پېښه چې تاسو له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه لیدلې ده څه وه؟عایشې رضی الله عنها و ژړل او ویې ویل:یوه شپه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویښ شو او ویې ویل:عایشې،ما یوازې پرېږده ترڅو عبادت وکړم.عایشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل:قسم پر الله، زه غواړم چې ستاسو او هغه څه چې تاسو ته خوشحالي راوړي څنګ یا منځ کی وسیږم.نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ودرېد او اودس یی وکر، بیا یې د نفل لمونځ پیل کړ.هغه دومره ژړل چې د هغه جامې لمدې شوې او ژړا یې دوامداره وه،ترڅو ټول ځمکه لمده شوه.کله چې بلال رضی الله عنه د اذان لپاره راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې په ژړا کې ولید،نو وې ویل:یا رسول الله، ته ژاړې، حال دا چې الله تعالی تا ته لومړنی او وروستني ګناهونو معاف کړې دی؟رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:آیا شکرګزار بنده نه وسیږم؟تېره شپه ما باندی څو آیتونه نازل شول،او وای پر هغه چا چې دا آیتونه ووایي او پکې تدبر ونه کړي. وروسته یې دا آیت تلاوت کرو

إِنَّ فِي خَلْقِ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَاخْتِلافِ اللَّيْلِ وَالنَّهَارِ لَآيَاتٍ لِّأُولِي الْأَلْبَابِ» (آل عمران: ۱۹۰)

په یقین سره، په آسمانونو او ځمکې کې،او د شپې او ورځې په بدلون کې، د هوښیارانو لپاره څرګندې نښې دي.

(۲۹)-علامه ابن رجب رحمه الله ویلي دي:کاش چې تاسو له هغو سلفو څخه یو تن لیدلی وای،په داسې حال کې چې دوی په کمال تواضع(فروتني) د الله تعالی په وړاندې درېدلي وو،او مناجات یې پیل کړی و.دوی د دنیا له ټولو اړخونو څخه فارغ وو او په داسې حالت کې دریدلي وو لکه یوې وچ لرګی چې هېڅ حرکت نه کوي.۳۳اسباب خشوع نماز از شیخ محمد صالح منجد

(۳۰)-«مجاهد رحمه الله وایي: کله چې به یو له سلفو څخه لمونځ کاوه، داسې به درېدل چې د الله تعالی څخه به داسی ویره کې وو چې نه به ئی خپل اطرافو ته کتل، نه به د څه شي سره مشغول کیدلو،نه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



یی ددنیا مسایلو ته فکر کاوه،او نه به یې په ذهن کې دغو مسایلو ته ځای ورکولو.تر دې چې په عبادت کې به داسې غرق و چې دا ټول بې ځایه فکرونه به یی له ذهن څخه ورک شول.۳۳اسباب خشوع نماز از شیخ محمد صالح منجد

(۳۱)-«عبدالله بن الزبیر رضی الله عنه په لمونځ کې داسې دریدل لکه یو وچ لرگی.هغه د سجدی په حالت کې داسې ثابت و چې که منجنیق هم د هغه تر څنگ تیریدلو، سر یې نه پورته کاوه او هغې ته یی پام نه کولو.»۳۳اسباب خشوع نماز از شیخ محمد صالح منجد

(۳۲)-مسلمه بن بشار په داسی حال کې چې په مسجد کې لمونځ کولو، یوه برخه د مسجد له خرابیدو سره مخ شوه.خلک پورته شول او مسجد څخه باندی لارل،خو مسلمه بن بشار په خپل لمونځ کې داسی غرق و چې دا پېښه ئی هېڅ ډول احساس نه کړه.۳۳اسباب خشوع نماز از شیخ محمد صالح منجد

(۳۳)-ویل کېږي چې ځینی سلف به د لمونځ او سجدې په حال کې داسې ښکارېدل لکه یو ټوټه کپړې چې په ځمکه ینښې وي،او ځینې یې داسې وو چې کله د لمونځ نه راوتل،د هغوی د مخ رنگ به بدل شوی وو.ځینې یې داسې وو چې د لمونځ په حالت کې نه پوهېدل چې څوک د هغوی ښي یا کینڼ خوا کې ولاړ دي.او ځینې یې داسې وو چې داودس په حالت کې د هغوی مخ زیر کېدلو،او کله چې ورته ویل کېدل چې ولې داودس په حالت کې ستاسو حالت بدل کیږی؟هغوی ویل:زه پوهېږم چې د کوم عظمت سره مخ یم.

(۳۴)-سیدنا علی بن ابی طالب رضی الله عنه د لمونځ په حالت کې لرزېدلو او د هغه حالت بدلیدلو.له هغه نه پوښتنه وشوه چې په تا څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوی، ولې لرزېږی؟هغه وویل:دهغه امانت د اداء کولو وخت راغلی دی چې آسمانونه، ځمکه او غرونه د دې بار د وړلو څخه وېرېدل او له دې څخه ئی ډډه کړې وه.۳۳اسباب خشوع نماز از شیخ محمد صالح منجد

(۳۵)-سعید تنوخی په لمونځ کې ژړا کوله او د ژړا نه وروسته یې د سترګو پر کونجونو اوښکې روانې وې.نور ځینې تابعیان هم په دې توګه په لمونځ کې بدلیدل او ویې ویل:ایا تاسو پوهېږئ چې موږ د کوم عظمت لرونکي ذات په وړاندې ولاړ یو او د هغه سره مناجات کوو؟ای ګرانو! کوم یو له تاسو داسې حالت لري چې په لمونځ کې داسې بدلېږي او ایا داسې ستر هیبت په زړه کې لري؟.۳۳اسباب خشوع نماز از شیخ محمد صالح منجد

(۳٦)-عامر بن عبدالقیس ته وویل شول: ایا په لمانځه کوم شی تا ځان ته بوختوي؟هغه ځواب ورکړ: آیا له لمانځه څخه ډېر محبوب شی شته چې ما په ځان مشغول کړي؟ ورته وویل شول:موږ په لمانځه کې په ځینو شیانو مشغول کیږو.هغه وویل: آیا په جنت، حورالعین او ورته شیانو کې؟ هغه ته وویل شول:نه، موږ په خپلو کورنیو او مالونو کې مشغول کیږو.هغه وویل: که زما بدن په نیزه باندې ټوټه ټوټه شي، دا غوره دی چې زه د دنیا د چارو په اړه فکر وکړم،نه دا چې په لمانځه کې دې شیانو ته پام وکړم.

(۳۷)-سعد بن معاذ رضی الله عنه وایي: درې خصلتونه لرم،خو کاش کې هر وخت می همداسی خویونه ول:

۱-په لمانځه کې هیڅ شی ته فکر نه کوم.

۲-که د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث واورم، هېڅ پکی شک نه کوم.

۳-کله چې د جنازې سره یم، یوازې هغه څه چې زه یې لولم او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعاګانې چې نور خلک وایي، زما ذهن ته راځي.

(۳۸)-حاتم رحمه الله وایي:د لمانځه په وخت کې پورته کیږم د وېرې او درناوي سره لمانځه ته ځم،د پاک نیت سره لمونځ کوم،د «الله اکبر» کلمه په لوی عزت او عظمت سره وایم،په ترتیل او په فکر سره قرآن لولم، په بشپړ فروتني سره رکوع ته ځم،تشهد په عاجزۍ سره بشپړوم،سلام وایم او په اخلاص سره لمونځ ختموم.بیا خپل ځان ته راستون شم او وېره لرم چې دا لمونځ به منل شوې وي او که نه.

(۳۹)-ابوبکر الصبغي رحمه الله وایي:ما دوه امامان، ابوحاتم رازي او محمد بن نصر المروزي ولیدل او د هغوی د غږ اورېدو څخه می ډېره خوشحالي وموندله.ما هیڅوک لکه هغوی نه وه لیدلی او داسې غږ یې درلود چې هیڅکله مې نه وه اورېدلی.ما هیڅوک دهغه په شان نه دی لیدلی چې دمحمد بن نصر په شان ښکلی لمونځ وکړی،مچی به د هغه په تندی کینسلته او تندی به یې ورته زخمي کرو، خو هغه هیڅ حرکت نه کولو.محمد بن یعقوب اخرم وایي:دهیچا مونځ د محمد بن نصر دمونځ څخه ښکلي نه وه.پشه ګانې به د هغه پر غوږونو کیناستې،خو هغې نه لرې کولی او د هغه د لمانځه ښکلا،خشوع او فروتني حیرانونکې وه؛هغه به خپل زنه پر سینې کېښوده او لکه یو وچ لرګی به ولاړ و.

(۴۰)-عبد الرحمن بن مهدی رحمه الله دشپې لمانځه ته درېدلو،خو کله چې به یې احساس وکړ چې څوک راځي،نو ځان به یې داسی کاوه لکه ویده چی وی.

(۴۱)-شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله کله چې لمانځه ته درېدلو،د هغه بدن به داسې لړزېدلو چې ځینې وختونه به یې بدن چپ یا ښي طرف ته کوږ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴۲)-امام اوزاعي وايي:هر څوک چې شپې په قيام الليل کې اوږده ودربږي، الله تعالی به د هغه لپاره په ورځ د رستاخيز دريدل اسانه کړي.

۴۳)حسن بصري فرمايي:هيځ عمل د شپې سره د مبارزې په څېر سخت او ستړي کوونکی نه دی.له هغه پوښتنه وشوه چې ولې دشپې ژوندي کسان د خلکو څخه تر ټولو ښکلي وي؟هغه وويل: حکمت يې دا دی چې دوی له الله سره خلوت کوي او الله يې د خپل رڼا په ذريعه ښايسته کوي.صلاة الليل از شيخ عطية

(۴۴)-همداسی حسن بصري وايي: «کله چې د شپې د ژوندي پاتې کيدو توان نه لرئ او په ورځ کی د روژی نيولو،پوه شئ چې ستاسو گناهونو تاسو محاصره کړي يی.»

(۴۵)-عبدالعزيز بن رواد چې به کله د شپې خپلې توری خيمې ته داخل شو،نو خپلی بستری ته به تلو او پر هغه به يی لاس راکش کرو ،او ويل به يی،په الله قسم، ته ډېره نرمه يې، خو هغه څه چې په جنت کې دي،تر دی هم نرم او غوره دی،او بيا به تر سهاره پورې په لمانځه ولار و.صلاة الليل شيخ عطية

(۴٦)-فضيل بن عياض هم وايي: «کله چې شپې راشي،د هغې د اوږدوالي له امله ډارېږم،خو کله چې دقرآن شريف په تلاوت مشغوله شم،تر سهاره پورې دهغی ويلو څخه نه مرېږم،حتی که د خپلې غوښتنې تر لاسه کولو ته ونه رسېږم.»صلاة الليل شيخ عطية

(۴۷)-د وصله بن اشيم نه نقل شوی دی:هغه ټوله شپه لمونځ کاوه. کله چې به سهار راورسېدو،نو داسې به يې ويل:ای پروردگاره هيڅوک زما په شان د جنت غوښتونکی او لټوونکی نه دی،نو لطفاً په خپل فضل او رحمت سره ما د دوزخ څخه وژغوره.صلاة الليل شيخ عطية

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۴۸)-وایی چې د حسن بن صالح یوه کنیز وه چې هغه یې وپلورله. کنیزه د خپل نوې مالک سره شوه.کله چې شپه نیمایي ته ورسیدله،له خوبه راپاڅېده او شور یې وکړ:ای د کور خلکو! لمونځ، لمونځ! هغه کسان چې په کور کې وو، اعتراض ئی وکړ او ویې ویل:ایا سهار شو؟ کنیزی وویل: آیا تاسې پرته له فرضي لمونځ څخه نور لمونځونه نه کوئ؟هغوی وویل:نه. کنیزی د حسن بن صالح سره بیرته اریکه ونیوله او ورته یې وویل:تا زه داسې قوم ته پلورلی یم چې پرته له فرضي لمونځوتو څخه نور هېڅ لمونځ نه کوي،نو مهرباني وکړئ ما بیرته راواخلئ.حسن بن صالح هم د هغې وړاندیز ومنلو.صلاة اللیل شیخ عطیة

(۴۹)-«سعید بن مسیب رحمه الله وایي:هغه شخص چې په نیمه شپه کې لمونځ کوي، الله تعالی د هغه مخ ته یو رڼا ورکوي چې په دې رڼا سره هر مسلمان هغه شخص خوښوي. کله چې نور خلک هغه گوري، حتی که د هغه سره یی مخکې لیدلی هم نه وی،بیا هم وایي:زه دې شخص سره مینه لرم!.مطریة حال السلف في قیام الرمضان،از شیخ آجری.

(۵۰)-«الربیع وایي: ما د امام شافعي رحمه الله په کور کې څو شپې تېرې کړې.دا لوی شخصیت به شپې ډېر کم ویده کېدو.صلاة اللیل شیخ عطیة

(۵۱)-ابوالجویریه وایي:شپږ میاشتې مې د امام ابو حنیفه رحمه الله سره تېرې کړې.په دې موده کې هېڅکله هم په آرامه خوب ویده نه شو.د هغه عادت داسې و چې شپې به یې په عبادت کولو کې تېرولې.یوه ورځ د یوې سیمې څخه تېرېدلو، هلته خلکو اشاره ورته وکړه او ویې ویل:دا شخص ټوله شپه عبادت کوي. امام ابو حنیفه ورته وویل:زه شرمېږم چې ځان په داسې یو صفت وښایم، چې عملي کوم یې نه.نو له هغې وروسته به یې تل ټوله شپه ژوندی تیروله.صلاة اللیل شیخ عطیة

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵۲)-ابو سهل الصعلوکي چی به کله خپل نفس سرزنش کولو، داسې به یی ویل:موږ د غفلت سره ویده کیږو،پرندګان ژرا کوي،حال دا چې هغوی هیڅ ګناه نه ده کری. خو مونږ بې شمېره ګناهونه ترسره کړې دي.په الله قسم!ما دروغ ویلي دي.که عاقل وای،هیڅکله به پرندګان د پروردګار د ستاینې او دعا کولو په برخه کې زما څخه مخکې شوی نه وای. صلاة اللیل شیخ عطیة

(۵۳)-یو صالح وایي: ای د شپې بیداریدونکو! هڅه وکړئ. ښایي هغه چیغې چې د شپې بې څوابه نه پاتې کیږي،بې څوابه پاتې شي، او یوازې هغه څوک چې قوي اراده او جدیت ولري، د شپې قیام ته راپورته کیږي. صلاة اللیل شیخ عطیة

(۵۴)-عاصم بن عصام البیهقي رحمه الله وایي:یوه شپه مې د امام احمد بن حنبل رحمه الله سره تېره کړه.هغوی زما لپاره اوبه کیښودلې ترڅو زه د تهجد لمونځ وکړم.کله چې سهار شو، هغه وکتل چې اوبه لکه څنګه چې یی ینښې وې، همغه رقم،په خپل ځای پاتې دی.او چا ورته لاس نه دی وری بیا هغه وفرمایل: سبحان الله! یو شخص چې د علم غوښتونکی وی،خو د قیام اللیل لپاره نه بیداره کیږي!.سیر اعلام النبلاء ۱۱/۲۹۸)

(۵۵)امام ابن رجب رحمه الله وایي: سلف صالحینو په روژه کې د تهجد ادا کولو لپاره داسې کوښښ کولو چې دا عمل به یې له ټولو څخه پټ ساتلو.لطائف المعارف

(۵٦)-ایوب سختیانی رحمه الله:دشپې تهجد کاوه،او دا به یې د بل چا لپاره نه ښکاره کولو، بلکې دا یې پټ ساتلو.خو کله چې به سهار شو،خپل آواز به یې داسې لوړ کړ لکه همدغه ساعت چې له خوب څخه پاڅېدلی وي.صفوة الصفوة۳/۴۹۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۵۷)-بعضی سلفو صالحینو په روژه کې د یو اودس سره د ماسخوتن او سهار لمونځونه ادا کول،

(۵۸)-امام نسائی رحمه الله په خپل «سنن» کتاب کې یو باب ذکر کری: «باب ذم من ترک قیام اللیل» یعنی د هغو کسانو نکوهش چې د شپې لمونځ پرېږدي.

(۵۹)-امام شافعی رحمه الله وایي:قیام اللیل کی دعا د هغه تېر په شان ده چې هیڅکله خپل هدف نه خطا کوی.»

(٦٠)-ابو یزید معانی رحمه الله وایي: سفیان ثوری رحمه الله کله به چې سهار شو،خپل پښې به یې پر دیوال پورته کولی او سر به یې پر ځمکه کیښودلو،تر څو وینه یی خپل اصلي ځای ته ولاړې شي،ځکه چې هغه به په قیام اللیل کې ډېر اوږد مهال ولار وو.

(٦١)-سفیان ثوری رحمه الله وایي:یوه گناه ما کړې وه چې د هغې له امله ما پنځه میاشتې قیام اللیل ونه کړ.

(٦٢)-امام ابن قیم رحمه الله وایي:یوه ښځه چې د سلف صالحین عبادت کوونکو څخه وه،په شپه کې به یې ډېر لمونځونه کول.یو چا ورځخه وپوښتل چې ولې ډیر په شپه کې لمونځ کوی؟هغه ځواب ورکړ: «ډیر لمونځه کول د څهری ښکلا زیاتوي،او زه غواړم چې زما څهره روښانه او ښکلی شي.

(٦٣)-ابراهیم خواص رحمه الله وایي:د زړه دارو په پنځو شیانو کې پټ دی:

۱- د ډېر خوراک نه ځان ساتل.

۲- د سحر په وخت کې عاجزي.

۳- د تهجد لپاره ویښ پاتې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- د صالحانو سره ناسته.

۵- د قرآنکریم تلاوت په تدبر سره.

(٦۴)-هشام دستوانی رحمه الله وایي: بې شکه چې د الله تعالی داسې بندګان هم شته چې له خپل ځان څخه خوږ خوب لیرې کوي،تر څو په خوب کې مړه نه شي.

(٦۵)-ثابت بنانی رحمه الله وایي:ما شل کاله خپل نفس د شپې بیدار پاتې کولو لپاره په سختۍ وزغمل،خو بیا مې شل کاله نور د دې عبادت څخه خوند واخیست.

(٦٦)-یو کس د سلف د صالحین څخه: دشپې داسې بیدار پاتې کېدو چې د هغه پښې ورم کولو.بیا به یې پښې ووهلې او ویل به یې:ای حکم ورکوونکي،چې د بدۍ امر کوئ!زه یوازې د رحمان عبادت لپاره پیدا شوی یم، نه د بل څه لپاره.

(٦٧)-معمر رضی الله عنه وایي:په څنګ کې مې سلیمان تمیمی وروسته له دې چې دماسخوتن لمونځ یې وکړ،د نفل لمونځ ئی پیل کړ.ما واورېدل چې دا آیه ئی تلاوت کوله: تبارک الَّذِي بِيَدِهِ المُلْكُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ (برکت دې وي هغه الله ته چې ملک یې په لاس کې دی او هغه پر هر شي قادر دی). هغه دا آیه پرله پسې تکرارولو تر څو د جومات اهل ووتل.بیا زه هم کور ته لاړم.کله چې د سهار اذان لپاره جومات ته لاړم،سلیمان مې ولید چې همدا آیه اوس هم تکراروي.

(٦٨)- د مسروق رحمه الله ښځه وایي: مسروق داسې لمونځ کاوه چې دواړه پښنو به یې ورم کولو،او ډیری وختونه زه به دحسرت له امله ناسته وم،زړه مې دهغی په حال سوځېدو او د هغه لپاره مې ژړل.همداراز، هر وخت چې به سترۍ شو، نو په ناسته به یی لمونځ کولو،او کله چې به یی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ خلاص شو،لکه څنګ چې وښ خپل ځای ته ځی،هغه به هداسی خپل ځای ته روان شو.سير اعلام النبلاء۴/٦٥

(٦٩)-أبو سليمان دارانی رحمه الله وايي:ځينې وختونه مې پنځه شپې مسلسل يوازې په يوه آيت تېرې کړې.

(۷۰)-امام سفيان ثوری رحمه الله ځوانانو ته خطاب کوي او وايي:ای ځوانانو،تر هغه وخته پورې چې ځوان يی،دشپې بيدار پاتې شئ.که اوس دشپې لمونځ نه کوئ،نو کله يې بيا ادا کوئ؟

(۷۱)-ابراهيم بن شماس وايي:ما امام احمد رحمه الله وليدو چې قيام الليل کوی،حال دا چې هغه يوازې يو ماشوم و.

(۷۲)امام اوزاعی رحمه الله:له بسه چی داسې شپې تېرولې چې دسجدی په ځای کې يې ژړا ديره کوله.يو ورځ ښځی خپل خاوند ته ووېل:ولې د ماشومانو خيال نه ساتی،چې د اوزاعی د لمونځ په ځای کې ادرار کوي؟خاوند ورته په ځواب کې ووېل:افسوس دې وي په تا،اوزاعی شپه په ژړا تېروی او دا هغه اوبۍ ده چې د اوزاعی له ژړا نه راځي،نه د ماشومانو له ادرار.

دمرګ په وروستيو شپبو کې امام ابو شعثاء رحمه الله ژړل.چا ترې وپوښتل: ولې ژاړې؟هغه ځواب ورکړ:وه مې نشو کولی.(په دې شپه)قيام الليل وکړم.

مشهور محدث شيخ الاسلام ابو عبدالله محمد بن نصر مروزی بغدادی رحمه الله (۲۰۲ - ۲۹۴ هـ)، چې د امام احمد حنبل رحمه الله شاګرد و، په خپل کتاب «قيام الليل» کې دغه پېښه نقل کړې ده.

جليل القدر او مشهوره تابعي دعربو سردار، احنف بن قيس رحمه الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ په داسې حالت کې چې ناست و، دا آیه واورېدله:{لَقَدْ أَنْزَلْنَا إِلَيْكُمْ كِتَابًا فِيهِ ذِكْرُكُمْ أَفَلَا تَعْقِلُونَ}اې خلکو! موږ تاسې ته داسې یو کتاب لېږلی دی، چې په هغه کښې همدا ستاسې یادونه ده، ایا تاسې نه پوهېږئ ؟

هغی له خپل ځایه تکان وخو او ویې ویل چې زما لپاره یوه نسخه قرآن کریم راوړئ ترڅو وګورم چې زه په کومه ډله کې یم او له کومو خلکو سره ورته والی لرم.قرآن کریم یې پرانیست،د هغو نارینه وو ترڅنګ تېر شو چې ځانګړتیا یې داسې ده.

{كَانُوا قَلِيلًا مِنَ اللَّيْلِ مَا يَهْجَعُونَ}{وَبِالْأَسْحَارِ هُمْ يَسْتَغْفِرُونَ}{ وَفِي أَمْوَالِهِمْ حَقٌّ لِلسَّائِلِ وَالْمَحْرُومِ}الذاریات ۱۷-۱۸-۱۹

هغوی د هغې ورځې له راتګ څخه مخکې د شپې له مخې ډېر لږ ویده کېدل.بیا دوی د شپې په وروستیو شېبو کښې (د الله څخه)بخښنه غوښتله.او د دوی په مالونو کښې د سوالګر او صابر لپاره حق ؤ.

سترګې یې پر بلې ډلې ولګیدې چې دغه حالت یې درلود.{تَتَجَافَىٰ جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ} سجده۱٦

(د تهجد لپاره) د بسترو څخه پاڅیږي، خپل رب ته له ویرې اوهیلې سره خپله غوښتنه وړاندې کوي.او څه روزي چې موږ ورکړې ده،له هغې څخه لګښت کوي.

بیا یې سترګې پر بلې ډلې ولګیدې چې په دې توګه یې ستاینه شوې وې:{وَالَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَامًا}فرقان٦۴

هغه کسان چې د خپل پروردګار په وړاندې په سجدو او قیام شپې تېروي.

او هغه خپل سفر ته ادامه ورکړه،یوه ډله یې ولیده چې په دې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



معرفي شوې وې:{الَّذِينَ يُنْفِقُونَ فِي السَّرَّاءِ وَالضَّرَّاءِ وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنِ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ}ال عمران ۱۳۴

د هغو لپاره چې د بډایۍ او بېوزلۍ په دواړو حالاتو کښې مال مصرفوي،د غوسې زغمونکي دي او د نورو لنډه پاري بخښي. داسې نېکان خلك د خدای ډېر خوښ دي.

يو بله ګروه يې ولید چې دغه حالت يې درلود:{وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنْفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَنْ يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ}الحشر۹

او پر خپل ځان باندې نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم پخپله محتاج وي. حقیقت دا دی، کوم خلك چې د خپل زړه له تنګۍ څخه وژغورل شول، همغوی بري موندونکي دي.

هغه سترې نه شو او همدارنګه د لیدلو او مشاهده کولو په کار کې بوخت و، تر دې چې یوې ډلې ته ورسېد چې دغه اخلاق او ځانګړتیاوې يې درلودلې {وَالَّذِينَ يَجْتَنِبُونَ كَبَائِرَ الْإِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ وَإِذَا مَا غَضِبُوا هُمْ يَغْفِرُونَ}الشوری

او هغه کسان چې له لویو ګناهونو او د بې حیایۍ له چارو څخه ډډه کوي او که په غوسه شي، نو عفوه کوي.

{وَالَّذِينَ اسْتَجَابُوا لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَاهُمْ يُنْفِقُونَ}او هغه کسان چې د خپل رب حکم مني، لمونځ قایموي، خپلې چارې پخپل منځي مشورې سره سرته رسوي. موږ چې هر څه روزي هغو ته ورکړې ده،له هغې څخه (د الله په لار کښې) لګښت کوي.

احنف بن قیس چې کله دلته ورسید، په حیرت کې ولوېد او ویې ویل:ای پروردګار !زه د خپل حال څخه خبرداری لرم،حقیقت دا دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په دې ډلو کې نه ښکارېږم.بیا یې بل لاره غوره کړه او خپل سفر ته ئې ادامه ورکړو.یوه ډله یې ولیدله چې حالت یې داسې و:{إِنَّهُمْ كَانُوا إِذَا قِيلَ لَهُمْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ يَسْتَكْبِرُونَ}{وَيَقُولُونَ أَئِنَّا لَتَارِكُو آلِهَتِنَا لِشَاعِرٍ مَجْنُونٍ} الصافاف۳۵-۳٦

دا هغه کسان ول چې کله به ورته ویل کېدل چې د الله څخه پرته بل هیڅ پر حق معبود نه شته، نو دوی به مغروره کېدل.او ویل به یې:ایا موږ د یو لېوني شاعر په خاطر خپل معبودان پرېږدو؟

«بیا په همدغه لاره کې خپلو سترګو ته داسې کسان ولیدل چې دا ډول معرفي شوي وو:{وَإِذَا ذُكِرَ اللَّهُ وَحْدَهُ اشْمَأَزَّتْ قُلُوبُ الَّذِينَ لَا يُؤْمِنُونَ بِالْآخِرَةِ وَإِذَا ذُكِرَ الَّذِينَ مِنْ دُونِهِ إِذَا هُمْ يَسْتَبْشِرُونَ}الزبر۴۵

کله چې یوازې د الله یادونه کېږي نو پر اخرت باندې د ایمان نه لرونکو زړونه په درزېدو شي،او کله چې له هغه پرته د نورو یادونه کیږي، نو په ناڅاپي ډول هغوی د خوښۍ څخه غوړیږي.

بیا د بلې ډلې څخه تېر شو چې د پوښتنې لاندې راغلي وو:{مَا سَلَكَكُمْ فِي سَقَرَ-قَالُوا لَمْ نَكُ مِنَ الْمُصَلِّينَ-وَلَمْ نَكُ نُطْعِمُ الْمِسْكِينَ-وَكُنَّا نَخُوضُ مَعَ الْخَائِضِينَ-وَكُنَّا نُكَذِّبُ بِيَوْمِ الدِّينِ-حَتَّى أَتَانَا الْيَقِينُ-المدثر۴۲-۴۷

تاسې څه شي دوږخ ته بوتلاست؟- هغوی به ځواب ورکړي:موږ له لمونځ کوونکو څخه نه وو-او مسکین ته مو خواړه نه ورکول-او د حق پر خلاف د خبرو جوړونکو سره په یو ځای کېدو موږ هم خبري جوړولې-او د جزا ورځ مو دروغ ګڼله-تر دې پورې چې موږ له هغه باوري شي (مرګ) سره مخامخ شوو.

هغه خپلې هڅې ته دوام ورکړو،د قرآن مجید پاڼې یې اړولې.تر دې چې خپل ځای ئې پیدا کړی،بالاخره پر دې آیت ودرېد:{وَآخَرُونَ اعْتَرَفُوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِذُنُوبِهِمْ خَلَطُوا عَمَلًا صَالِحًا وَآخَرَ سَيِّئًا عَسَى اللَّهُ أَنْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ}التوبه

ځيني نور خلك دي چي په خپلو گناهونو يې اعتراف کړيدی؛د هغوی عمل گډوډ دی:څه ښه دی څه بد.ليري نه ده چي الله پر هغو بيا مهربان شي، ځکه هغه ښنونکی او رحم کوونکی دی.

په دې وخت کې يې بې اختياره دغه جمله په ژبه راغله.«هو، هو، بې شکه همدا زما حالت دی».اصول و مبادی فهم قران(ص٢٦)

په هر حال، هغوی خپل وخت د الله تعالی لپاره لگولی و،او الله تعالی هم له هغوی په خپل دين کې گټه واخيسته او وخت يې د هغوی لپاره مبارک کړ.

(٧۵)-ممکنه ده څوک تاسو څخه پوښتنه وکړي چې کله چې زه زيات وخت قيام الليل لپاره ورکرم، نو ستړی او خسته کيږم؟

په ځواب کې ووايی:قيام او تهجد لپاره بيداري د هر شخص د توان او طاقت پراساس دی،او الله تعالی هيڅوک نه دی مکلف کړی چې د خپل طاقت څخه پورته څه وکړي.لکه څنگه چې په حديث کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: «لِيُصَلِّ أَحَدُكُمْ نَشَاطَهُ، فَإِذَا فَتَرَ فَلْيَقْعُدْ» (بخاري).

يعنې تاسو هر يو بايد تر هغه وخته پورې لمونځ وکړئ چې ترڅو خپل ځان کې د نشاط او توان احساس کوئ،او کله چې د کمزوري او ستړيا احساس وکړئ،نو بايد لمونځ ترک کړئ او استراحت وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:د سلف صالحين د نفلي لمانځه شمېر په روژه کې

که څه هم په تېره برخه کې مو د سلف صالحين د لمانځه په کيفيت بحث کړی،خو اوس به د هغو رکعتونو په اړه معلومات وړاندې کړو چې دوی به په روژه کې ادا کول.

د سير وأعلام، کتاب ليکلی چی:

سيدنا علي بن حسين رحمه الله هره ورځ ۱۰۰۰ رکعاته لمونځ کولو. تهذيت التهذيب۷/۳۰٦

ميمون بن مهران رحمه الله په ۱۷ ورځو کې ۱۷۰۰۰ رکعتونه وکړل، چې معنی يې دا ده چې هغه به هره ورځ ۱۰۰۰ رکعاته لمونځ کاوه.تهذيت التهذيب۱۰/۳۹۲

اويس قرني رحمه الله به ټوله شپه په سجده تېروله او د شپې وخت به يې په رکوع کې تېربده.سير اعلام النبلاء

قاضي ابويوسف رحمه الله به هره ورځ ۲۰۰ رکعت لمونځ کاوه.سير اعلام النبلاء

امام ذهبي رحمه الله د امام ابو يوسف رحمه الله له قوله روايت کوي: امام ابو حنيفه رحمه الله به هره شپه په يوه رکعت کې د قرآن کريم ختم کاوه.

د وکيع بن جراح رحمه الله په اړه ويل شوي چې هغه به د روژې په هره شپه کې يو ځل د قرآن کريم ختم کولو او ۱۳ رکعت د ضحی لمونځ به يې کولو. د فرضي ماسپښين لمونځ څخه وروسته به يې د عصر تر لمانځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې نفلي لمونځ ادا کاوه.

ايوب سختياني رحمه الله به ټوله شپه ويښ و، خو د سهار په وخت کې به يې خپل غږ لوړ کړ ترڅو خلک فکر وکړي چې هغه اوس له خوبه را ويښ شوی دی.

ځينې د سلف صالح رحمهم الله به د روژې په شپو کې ۲۳ رکعته لمونځونه کول.مصنف ابن أبي شبيبة (٧٦٨٨)

داود بن قيس رحمه الله وايي: خلکو به د عمر بن عبدالعزيز رحمه الله په وخت کې په مدينه طيبه کې ٣٦ رکعتونه لمونځ کاوه، د درې رکعته وترو سره. مصنف ابن أبي شيبة (٧٩٨٩)

سعيد بن جبير، ابن ابی مليکه، شتير بن شکل، او ابو البختري علي بن ربيعه به په روژه کې ۲۰ رکعته د قيام الليل لمونځ ادا کاوه.

عبدالرحمن بن الأسود به په روژه کې ۴۰ رکعته د قيام الليل لمونځ کولو،٧ رکعته وترو سره.

او په دې باب کې نور مثالونه هم شته، چې تاسو ته لاندې کتابونو ته د مراجعه کولو سپارښتنه کوم:

۱-تاريخ الإسلام د امام ذهبي رحمه الله.

۲-سير أعلام النبلاء د امام ذهبي رحمه الله.

۳-تاريخ بغداد د خطيب بغدادي رحمه الله.

۴-البداية والنهاية د امام ابن کثير رحمه الله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل: د شپې د زنده دارۍ ګټې

شيخ بسام عطيه فرج په خپل کتاب صلاة الليل کې ليکي:د شپې زنده داري د انسان له بدن څخه ناروغۍ ليرې کوي.دا خپله د ناروغيو د مخنيوي يوه وسيله ده،ځکه ډاکټران دې نظر ته رسېدلي چې ډېر خوب د زړه د سکتې سبب ګرځي.ما له يو شمېر ډاکټرانو پوښتنه وکړه چې انسان ته د خوب لپاره څومره وخت ته اړتيا ده؟هغوی ځواب راکړ:د خوب لپاره ټاکلې موده نشته.هرکله چې انسان د ستړيا احساس وکړي،بايد استراحت وکړي. ځينې وخت دوه يا څلور ساعته خوب بسنه کوي،پرته له هغه وخت چې ستړيا د سختو او طاقت‌فرسا کارونو يا ناروغۍ له امله وي.په داسې حالاتو کې،تر هغه چې ستړيا پای ته نه وي رسېدلې او ناروغي له بدنه نه وي وتلې، ډېر خوب او استراحت ستونزه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:د سلف صالحینو صدقه ورکول په روژه کې

صدقه ورکول د صالحینو او د الله تعالی د محبوبو بندګانو طریقه ده.دا عمل زړه پاکوي،په مال کې برکت راولي،حسد له منځه وړي،ټولنه ځواکمنه کوي او د مسلمان ورور حق پرې ادا کېږي.

سخاوت د رسول الله ﷺ ځانګړتیا په هر وخت کې وه،خو په ځانګړې ډول د روژې په میاشت کې یې سخاوت نور هم زیاتېدلو.د ابن عباس رضی الله عنه حدیث دی:«كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ، وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ»(بخاري)

ژباړه:رسول الله ﷺ د ټولو خلکو تر منځ ډېر سخاوتمند و، او په روژه کې یې سخاوت د هر وخت څخه زیات و.

رسول الله ﷺ فرمایي: «أفضل الصدقة صدقة في رمضان»(شیخ الباني رحمه الله دا حدیث ضعیف ګڼلی. وګورئ: ضعیف الجامع، حدیث نمبر: ۱۰۱۳)

یعنی:بهترینه صدقه،د روژې صدقه ده.

کله چې موږ د ابو بکر او عمر رضي الله عنهما سیرت مطالعه کړو،نو پوهیږو چې دواړو به د صدقې ورکولو په برخه کې یو بل سره سیالي کوله.

د روژې په میاشت کې د افطار ورکول لوی اجر او ثواب لري. په حدیث کې راغلي دي:«مَنْ فَطَّرَ صَائِمًا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِهِ لَا يَنْقُصُ مِنْ أَجْرِهِ شَيْئًا» (رواه الترمذي)

یعنې: «څوک چې یو روژه دار ته افطاري ورکړي،دی ته به هم دروژې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیولو په شان اجر ولیکل شی،پرته له دې چې د هغه اجر کې څه کمښت راشي.»

امام زهري رحمه الله د روژې په اړه ویلي دي:«إنما هو قراءة القرآن وإطعام الطعام»

یعنې د روژې میاشت د قرآن په تلاوت او مسکینانو ته په خوراک ورکولو کې خلاصه شوې ده.

انس بن مالک رضی الله عنه وایي: «مسلمانان، د پیامبر صلی الله علیه وسلم اصحاب او تابعین کله چې به د شعبان میاشت داخله شوه، د خپلو ځانونو لپاره قرآنونه نیول او تلاوت به یې پکی کول،او دخپل مال زکات به یې ورکولو ترڅو بې وزله او فقیران هم د رمضان په میاشت کې روژه ونیسي او تقویه شي.»

عن ابن عمر رضي الله عنهما أنهُ كان لا يأكل حتى يُؤتى بمسكين يأكل معه. بخاری

د ابن عمر رضی الله عنهما څخه روایت دی چې هغه به تر هغه وخته خوراک نه کولو، تر څو چې به یو بې وزله کس یی ورته نه وی راوری چې ورسره ګډه دودی وخوري.

همدارنګه ابن عمر رضی الله عنه به چې مسجد ته تللو،دمسجد څخه به یی څو نور کسان د ځان سره د ډوډۍ خوړلو لپاره کور ته بېول.

د مدینې ځینې فقیران نه پوهېدل چې هغوی ته خوراکي توکي له کومه ځایه راځي،تر هغه چې علي بن حسین زین العابدین رحمه الله وفات شو.له هغه وروسته،دوی ته نور خوراکي توکي نه راورل کیدل. کله چې د هغه جسد ته غسل ورکول کیدو،د هغه پر شا د خوراکي توکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دکڅوړې وړلو نښې ولیدل شوې.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایي:«په روژه کې د فقیرانو مرسته کول د اسلام له سنتونو څخه دي.»مجموع الفتاوی۲۹۸/۲۵

امام ابن قیم رحمه الله فرمایي:«ما به کتل چې کله به شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله د جمعې د لمانځه لپاره دکور څخه ووتلو،نو هر هغه څه چې به یی په کور کې وو، لکه ډوډی او نور شیان، هغه به یې راواخیستل او په پټه به یې په لاره کې صدقه کول.»زاد العماد۳۹۵/۱

هو محترم ملګریه،سلفو صالحینو به په روژه کې دومره حریص ول چې د خپل مسلمان ورور لپاره به یې د خوړو ورکولو په عمل کې ځانګړې لېوالتیا درلوده،تر دې چې د نورو عباداتو پر ځای یې همدې عمل ته ترجیح ورکوله.نبي کریم ﷺ فرمایلي دي:خَيْرُكُم مَنْ أَطْعَمَ الطَّعَامَ وَرَدَّ السَّلَامَ.یعنې:ستاسو غوره هغه څوک دی چې خواړه ورکړي او سلام ته ځواب ووایي.صحیح الجامع ۳۳۱۸

یو کس له سلف صالحینو څخه ویلي دي:که زه په روژه کې لسو مسکینانو ته خواړه ورکړم، نو دا راته له دې غوره ده چې د اسماعیل علیه السلام له اولاد څخه لس غلامان آزاد کړم.

عبدالله بن عمر رضی الله عنه به خپل روژه تر هغه نه ماتوله چې د یتیمانو، فقیرانو او مسکینانو سره یې افطار نه وه کړی.حال السلف في رمضان

سلف صالحین د روژې په میاشت کې د صدقې او انفاق له ګټو څخه خبر ول. له همدې امله هغوی شخصاً د روژې ماتولو لپاره د روژه دارانو لپاره افطاري چمتو کول او د فقیرانو سره د خواړو ورکولو څخه یې خوند اخیستلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کتاب،اعلام،کی لیکل شوی دي:امام حسن بصری قرون مفضله او امام محدث عبدالله بن مبارک رحمهما الله، سره له دې چې په خپل وخت کې یې په فقه او علم کې بې مثاله ول،بیا یی هم د روژه دارانو لپاره خواړه چمتو کول او په خپلو لاسونو به یې توزیع کول.

صلت بن بسطام رحمه الله به هره ورځ د روژی په مبارکه میاشت کې پنځوسو مسکینو ته افطاري ورکاوه او هغو کسانو چې کالی نه درلودل،هغوی ته یې کالی ورکول.

حماد بن ابی سلیمان رحمه الله هم په روژه کې د فقیرانو سره مرسته کوله، هغوی ته ئی خواړه او اوبه ورکولی او د هغوی لپاره ئی لباس او دودی چمتو کوله. شیخ سعید بن عبدالله الحمید وایي:حماد رحمه الله په روژه کې سلگونه مسکینانو ته خواړه ورکول.

ابن ابی غدی وایي:داود بن ابی هند څلوېښت کاله پرله پسې روژه نیولې وه،خو د هغه کورنۍ نه پوهیده.ځکه هغه د گلابو پلورونکی و. هغه به چی کله دورځی له کور نه وتلو،خواړه یې له ځان سره وړل او په لاره کې یې دغه خواړه مسکینانو ته ورکول،او د ماښام په وخت کې به یې د خپلې کورنۍ سره افطار کاوه.

کله چې موږ د سلف صالحینو ژوند ته وگورو،پوهیږو چې هغوی ټولنیز ژوند سره مینه لرله او یو بل سره ئی مرسته کول خوښ ول.داسی لکه چې دوی د یو بدن غړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:په روژه کې د غیبت او دروغ ویلو په اړه د سلف وینا

لکه څنګه چې مخکې مو ویلی و،په روژه کې د ګناه کولو جزا د نورو وختونو په پرتله لویه ده.

له دې امله،سلف صالحینو هڅه کوله چې په روژه کې د ګناهونو څخه ځان وساتي او نور هم د ګناهونو څخه منعه کړي،ځکه چې ګناه او روژه په یوځای کې نه شي جمع کېدای.په صحیح حدیث کې راغلي دي:«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم: مَن لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ». بخاری وصحیح الجامع

ژباړه: «څوک چې له دروغو ویلو او باطل عمل کولو څخه ډډه ونه کړي،الله تعالی هیڅ اړتیا نه لري چې یو کس د خوړو او څښاک څخه ډډه وکړي.»

عمر بن الخطاب رضی الله عنه فرمايي: روژه یوازې د خوړو او څښاک پرېښودل نه دی،بلکې روژه د دروغو او باطل خبرو،لهو لعب او ناحقه قسمونو نه ځان ساتل دي».مصنف ابن أبي شیبه

امام مجاهد رحمه الله،لوی مفسر،وایي چې دوه (ناپسند) خصلتونه دي چې کله هغه پرېښودل شي،روژه سالمه پاتې کېږي:

۱- غیبت

۲- دروغ.مصنف ابن أبي شیبه

روژه د نفس پاکولو میاشت ده.که ته لا هم دنفس په فاسدولو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصرار کوې، نو پوه شه چې په تا کې هم هیڅ خیر نیشته.

امام ابن رجب حنبلي رحمه الله فرمايي:روژه دار تر هغه وخته پورې په عبادت کې دی،چې تر څو غیبت ونه کړي.

إمام ابن القيم رحمه الله فرمايي:روژه دار هغه شخص دی چې د خپل بدن ټول غړي د گناهونو نه بچ کری،ژبه يې له دروغو او فحش خبرو څخه پاکه وي، او نس يې له اوبو او خوړو څخه.او د هغه عورت له ناپاکۍ څخه پاک وي.

که کله خبرې کوي،داسې خبرې نه کوي چې د هغه روژه زيانمنه کړي،او که کوم عمل ترسره کوی،نو داسې عمل نه کوي چې دهغه روژه فاسده کړي.

په پايله کې،د هغه خبرې د خیر او برکت څخه ډکې وي او عملونه يې د خوشبويي په شان وي.

او هر څوک چې ورسره کینی،د هغه له همنشینۍ څخه گټه اخلي او له دروغو، کذب، گناه او ظلم څخه په امان کې وي.

دا ريښتيني روژه ده،نه دا چې انسان يوازې د خوړو او څښاک څخه ډډه کوي،

روژه د بدن اعضا دگناهونو څخه د ساتلو او دخيټې د خوړو او څښاک څخه ځان ساتلو نوم دی.

لکه څنگه چې اوبه او خواړه روژه باطله وی او هغې ته فساد راوړي، همدارنگه گناهونه هم د روژې ثواب او پاداش له منځه وړي او د هغې پايلې ته فساد راوړي.په دې توگه، روژه دار داسې کس ته ورته کيږي چې د روژې له حقيقي هدف سره سم نه وی روان.الوابل الصیب۳۲/۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:سلفو علماوو به د روژې په میاشت کې داحادیثو تدریس ځنډول او قرآن کریم ته به یې مخه کوله.

که څه هم د پیغمبر صلی الله علیه وسلم د احادیثو تدریس کول یوه واجبه وظیفه ده.

چې انسان ته سعادت ورکوي،ژوند ته یې پراختیا ورکوي،او په جنت کې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یوځای کیږي،رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:نَضَّرَ اللهُ امرَأً سَمِعَ مقالَتي فَأَدَاهَا كَمَا سَمِعَ فَرُبَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى لَهُ مِّنْ سَامِعٍ.» (ترمذي)

«الله تعالی دی هغه کس روی سفیده کړي چې زما خبرې واوري او بیا یې همدغه شان چې اورېدلي وي، بل ته ورسوي،ډیری کسان داسی وی چې ورته دا ابلاغ شي،د هغه چا نه چې اورېدلي وي،ډیر پوه او منونکي وي.»

قاضي عیاض رحمه الله په «الشفا» کې لیکي: مصعب بن عبدالله روایت کوي چې هرکله چې به امام مالک رحمه الله د رسول الله صلی الله علیه وسلم یادونه کوله،د هغه څېره بدلیده او د شدت لرزش له کبله به داسې ښکاریده چې تقریبا به په ځمکه راولویږی.الشعفا فی تعریف المصطفی١/٩٦

خو کله چې به د روژې میاشت راغله، هغه به د حدیثو تدریس پرېښود او خپل ځان به یې د قرآن کریم تلاوت او تدبر ته ځانګړی کړ.لطائف المعارف١٧١

(c) ketabton.com: The Digital Library



د.شیخ سعید بن عبدالله الحمید رحمه الله وایی:کله چې امام مالک رحمه الله د روژې په میاشت کې د نبوي احادیثو تدریس د قرآن کریم تلاوت کولو لپاره پریښودلو،آیا موږ نه شو کولی چې د روژې په میاشت کې د عبادت لپاره خپل موبایلونه،لپټاپونه،او تلویزیونونه بند کړو؟»

مسجد نبوی همیشه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو د تدریس لپاره یو ګرم او فعاله ځای پاتې شوی دی،او له اسلامي تاریخ څخه تر نن پورې په دې ځای کې د حدیثو کتابونه تدریس کیږي.خو سلف صالحینو به د روژې په میاشت کې دغه ځای یوازې د کتاب الله تدریس او تلاوت لپاره ځانګړی کول او داحادیثو درسونه به یی موقتي توګه تعطیل کړل.

زبید یامی رحمه الله د روژې په راتګ سره خپل ټول کارونه پرېښودل او قرآن شریف به یې په لاس کې نیوه.بیا به یې خپل دوستان ځان ته را ټول کړل او ټوله روژه به یې د قرآنکریم په تفسیر کې تېره کړه.

امام احمد رحمه الله په روژه کې تدریس او د کتابونو لیکلو کارونه ځنډول او ویل به یې:دا میاشت د قرآن کریم د تلاوت کولو میاشت ده.

امام ماجد غامدي وایي:له زید بن ثابت څخه پوښتنه وشوه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د سحري او لمونځ ترمنځ څومره فاصله وه؟

هغه وویل: تر هغه پورې چې پنځوس آیتونه ولوستل شي.

او له امام نخعي څخه د قنوت موده پوښتنه وشوه، هغه وویل: د انشقاق سورت لوستلو په اندازه.

دا په دې معنا ده چې هغوی دومره د قرآن سره تړلي وو چې حتی وخت یې د قرآن آیتونو پراساس حساباوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه د نورو محدثینو لکه امام سفیان ثوري او نورو څخه ثابت ده چې په روژه کې به یې د حدیثو درسونه پریښودل او د قرآن تفسیر ته به یې مخه کوله.

نو د ټولو علماو لپاره لازمه ده چې په روژی کې باید د قرآن کریم تفسیر او ژباړې ته ځان ځان وقف کړي او له نورو درسونو،په ځانگړې توگه د فنونو څخه، یوازې یو میاشت ځان بېغمه کړي او یوازې ځان د الله تعالی دکتاب تلاوت او تفسیر ته ځانگړی کړي. دا د سلفو صالحینو طریقه وه.

رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمایي:وما اجتمع قوم في بيت من بيوتِ الله يَتْلُون كتاب الله، ويتدارسونه بينهم، إلا نزلت عليهم السكينة، وغشيتهُمُ الرَّحْمَة، وَحَفَّتْهُمُ الملائكة، وذكرهم الله فيمن عنده».مسلم

هیڅ قوم نشته چې د الله په یو کور (مسجد) کې راټول شي ترڅو د الله تعالی د کتاب(قرآن) تلاوت وکړي او یو بل ته یې زده کړی، مگر الله به پرې سکینه (آرامش) نازل کړي،د الله رحمت به هغوی احاطه کړي، ملایکې به یې شاوخوا گرځی او الله تعالی د هغوی یادونه د خپلو نیکو بندگانو سره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:سلف صالحین او د روژې په میاشت کې د قرآن کریم تلاوت

گرانه ملگریه،په تیرو بحثونو کې مو د سلفو صالحیو ځینې عملونه چې په روژه او غیر روژه کې یې ترسره کول یاد کړل.اوس مخکې له دې چې دې بحث ته ادامه ورکړو،غواړم څو پوښتنو ته ځواب ورکړې:

۱.ولې سلف صالحینو په دې مبارکه میاشت کې د الله تعالی په عبادت کې ډیر جدی او هڅاند وو؟

۲. ولې هغوی خپل معمول کارونه په دې میاشت کې پریښودل؟

۳.ولې هغوی د ورځې روژه او د شپې قیام اللیل ته ځانگړې پاملرنه کوله؟

۴.سره له دې چې هغوی په روژه کې روژه نیوله او فرضی عبادات یې ترسره کول،بیا یې هم د صدقې ورکولو،د بې وزلو مرسته او انفاق لپاره لا زیاته هڅه کوله؟

په رښتیا،دا څه راز و چې سلف صالحینو د خپلو اعمالو په ترسره کولو کې قولاً او عملاً دومره جدي وو؟دوی یوازې د څو ساعتونو لپاره د خوړو او څښاک نه کولو سره ځان پرهیزگار نه گڼل،بلکې خپل ځان یې د الله تعالی رضا ته رسیدلو لپاره په عبادت، صدقې، مرستې او نورو ښو کارونو مشغوله کړی و.خو موږ یوازې د څو ساعتونو لپاره د خوړو او څښاک څخه پرهیز کوو او ځان بشپړ مسلمان او پرهیزگار گڼو،او بیا وایو چې دوی لوی انسانان وو، موږ هم لکه هغوی لوی انسانان یو!

گرانه ملگریه،د شیخ عبدالعزیز بن باز رحمه الله توصیې ته پام وکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې وايي:زما توصيه ټولو قرآن لوستونکو ته دا ده چې د تدبر او تفکر سره،خالصانه او د علم ترلاسه کولو او ګټې په قصد سره دقرآن تلاوت وکړي. هره میاشت یو ځل قرآن ختم کړي، او که دی شخه لږه موده کی هم ممکنه وي،بیا هم بهتره ده.فتاوی المرأة۲۰۰/۱۹۹

اوس راځو د قرآنکریم تلاوت ته.

په دې کې شک نشته چې د قرآن تلاوت د ټولو ذکرونو څخه ترټولو ستر او غوره دی،او امت په دې اجماع لري چې دا عمل ډېر ثواب او پاداش لري. الله تعالی فرمايي:{إِنَّ الَّذِينَ يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَأَقَامُوا الصَّلَاةَ وَأَنْفَقُوا مِمَّا رَزَقْنَاهُمْ سِرًّا وَعَلَانِيَةً يَرْجُونَ تِجَارَةً لَنْ تَبُورَ}فاطر۲۹

کوم کسان چي د الله کتاب لولي او لمونځ قائموي او څه چي موږ هغو ته روزي ورکړېده د هغې څخه په ښکاره او پټه (د الله په لار کي) لګښت کوي. په یقیني ډول هغوی د داسي یوې سوداګرۍ هیله مند دي چي په هغې کښي به هیڅکله زیان نه وي.

او رسول الله صلى الله علیه وسلم فرمايي:من قام بعشر آيات، لم يُكتب من الغافلين، ومن قام بمائة آية، كتب من القانتين، ومن قام بألف آية، كتب من المقنطرين...(ابوداود، ابن خزیمه)

هر څوک چې لس آیتونه تلاوت کړي، هغه له غافلینو نه شمېرل کېږي،او هر څوک چې سل آیتونه تلاوت کړي،هغه له قانتینو سره حساب کېږي،او هر څوک چې زر آیتونه تلاوت کړي،هغه له مقنطرينو سره شمېرل کېږي،دا هغه کسان دي چې په لاره د الله تعالی کې ډېرې شتمنۍ مصرفوي.

له عبدالله بن عمرو بن عاص رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمايل:يقال لصاحب القرآن: اقرأ وارتق، ورتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



كما كنت ترتل في الدنيا، فإن منزلتك عند آخر آية تقرؤها.(أبوداود)

په قيامت کې د قرآن حافظ ته ويل کيږي:تلاوت وکړه او لوړ شه،لکه څنګه چې دی په دنيا کې تلاوت کاوه،همدا راز اوس قرآن په ترتيل او مهارت سره تلاوت کړه،ځکه چې ستا مقام او ځای به هماغه ځای کې وي چې وروستۍ آيت پکی تلاوت کړې.

له عايشه رضی الله عنها څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل:الذي يقرأ القرآن، وهو ماهر به، مع السفرة الكرام البررة، والذي يقرأ القرآن ويتتعتع فيه، وهو عليه شاق، له أجران...(أبو داود، ترمذی)

هغه څوک چې دقرآن تلاوت کوي او په دې کې مهارت لري،هغه د کريم او نيکو فرشتو سره وي.او هغه څوک چې قرآن تلاوت کوي خو دا ورته ستونزمن وي او ژبه يې د کلمو په سمه توګه تلاوت نه کوي،هغه ته دوه انعامونه ورکول کيږي.

نتيجه دا ده چې کله د قرآن تلاوت په غير روژه کې دومره ثواب لري،نو په روژه کې الله تعالی خپلو بندګانو ته لا زيات ثواب ورکوي.

ايا پوهيږئ چې جبرئيل عليه السلام هره شپه په رمضان کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ته دقرآن تلاوت او تدريس کولو؟

امام بخاري رحمه الله د ابن عباس څخه روايت کوي چې هغه ووېل:كَانَ رَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم أَجْوَدَ النَّاسِ وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ فَلَرَسُولُ الله صلى الله عليه وسلم أَجود بِالْخَيْرِ مِنَ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ. بخاری

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو سخاوتمند انسان و، او په رمضان کې یې له هر وخت څخه زیات سخاوت کولو.په دې میاشت کې، کله چې به جبرئیل علیه السلام ورسره لیدل،دوی به په هره شپه د قرآن کریم تلاوت او تکرار کولو.رسول الله صلی الله علیه وسلم د نیکو چارو په برخه کې د تیز باد څخه هم وړاندې و.

همدارنگه عثمان رضی الله عنه په هره ورځ روژه کې یو ځل قرآنکریم ختم کاوه.سیر اعلام النبلاء دعثمان رضی عنه صفات

د سلف صالحینو څخه ثابت شوي دي چې په روژه کې ځینو یې په یوه اونۍ کې قرآن ختمولو،ځینو به یې په دوه ورځو کې او ځینو به یې په یوه شپه او یوه ورځ کې هم قرآن ختمولو.ځکه چې دوی خپل ځان د الله تعالی عبادت لپاره وقف کړی و. او هغه څوک چې ځان قولاً او عملاً د الله تعالی لپاره وقف کړي،الله تعالی د هغه وخت ته وړدوالی او برکت ورکوي.

باور وکړئ، هغه څوک چې د خپل وخت د گټې اخیستلو په لټه کې وي او دې ته اهمیت ورکړي، هغه به خپل هدف ته ورسیږي.

اوس به د «سیر أعلام النبلاء»، «التذکرة الحفاظ»، «تهذیب التهذیب»، «تاریخ بغداد»، «حلیة الأولیاء تاریخ الإسلام»، او «الطائف المعارف» کتابونو څخه یو څو نمونې وړاندې کړم.

په روژه کې، عائشې رضی الله عنها په شروع کې د سهار له لمانځه وروسته د قرآن کریم تلاوت کولو او کله چې به لمر راپورته شو،بیا به یې خوب کاوه.

أنس بن مالک رضی الله عنه په روژه کې کله چې به قرآن کریم ختم کړ،خپلو اولادونو او اهل بیت ته به یی بلنه ورکوله او د هغوی لپاره به یی دعاگانې کولې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته،د قرآن ختمولو وروسته دعا په یقین سره قبوله کیږي. ځکه چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه فرمايي:«هغه څوک چې د قرآن ختمولو وروسته دعا وکړي، دعا يې مستجاب کیږي.»

مالک بن دینار وايي:یوه شپه مې خپله وظیفه هیره کړه او په خوب کې لاړم.په خوب کې مې یوه ښکلې کنیزه ولیده چې په لاس کې یې یو ټوټه کاغذ و.هغې راته وویل:آیا کولی شې دا ولولې؟ ما ورته وویل: هو.بیا هغې هغه کاغذ راته راکړ. کله چې مې هغه کاغذ ولوستو، نو پکې لیکل شوي وو:آیا د دنیا لذتونو او آرمانونو له دې نه غافل کړی یې چې د جنت ښکلې ملګرې له لاسه ورکړې؟هغه ځای چې مرګ نلري، او ته به د جنتي حوریانو سره ژوند تېروي؟بیا هغې راته وویل: بیدار شه، ځکه چې د خوب څخه د قرآن سره وخت تېرول درته غوره دي.سير أعلام النبلاء

قتاده رضی الله عنه به په روژه کې هره اوونۍ یو ځل د قرآن ختم کاوه.

تمیم داری رضی الله عنه قرآن په اووه ورځو کې ختم کاوه.

امام ذهبی رحمه الله وايي:کان سعید بن جبیر یختم القرآن فیما بین المغرب والعشاء في شهر رمضان، وکانوا یؤخرون العشاء». (سیر اعلام النبلاء)

یعنې:سعید بن جبیر په روژه کې د شام او ماسخوتن(عشاء) ترمنځ د قرآن ختم کولو،او علت یې دا و چې دوی به د عشاء لمونځ وروسته کولو.

د امام ابن رجب رحمه الله په قول، ځینې سلفو به په هر درې شپو ورځو کې ټول قرآن کریم په تراویح کې ختم کړو،ځینو به یې په لسو ورځو کې ختم کړ او ځینو به یې په یوه اونۍ کې ختم کړو.په ځینو روایاتو کې راغلي چې ځینو سلفو ټول قرآن په یوه شپه کې په تراویح کې ختم کولو. ځینو نورو خلکو خپل زیاتره وخت د قرآن تلاوت ته ځانګړی کړی و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د امام زهري رحمه الله په اړه ویل شوي چې هغه په روژه کې د علمي غونډو لپاره تللو او کله چې له هغې به فارغ شو، بیا به یې دقرآن تلاوت کاوه.

سفیان ثوری باره کی روایت شوی:دوکان رحمه الله إذا دخل رمضان ترك جمیع العبادات، وأقبل على قراءة القرآن.

د امام سفیان ثوري رحمه الله په اړه ویل شوي چې کله به روژه راغله، هغه به ټول عبادات پرېښودل او یوازې به یې د قرآن تلاوت ته مخه کړه.

امام ابو حنیفه رحمه الله هره شپه په یو رکعت کې قرآن ختم کاوه.

عبدالله بن محریز رحمه الله د یوه اونۍ په موده کې قرآن ختمه ولو.

عطاء بن سائب رحمه الله هره شپه دقرآن تلاوت کاوه.

ابوبکر بن عایش رحمه الله په یوه ورځ کې قرآن ختم کړی.

یحیی بن سعید القطان رحمه الله هم په یوه ورځ کې قرآن ختم کړی.

امام احمد رحمه الله په یوه اونۍ کې قرآن ختمه ولو.

ابن مهرویه، ابن الحداد او ابن میقل هم په یوه ورځ کې قرآن ختمه ولو.

ابن کمال رحمه الله په یوه میاشت کې (۳۰) ځله قرآن ختمه ولو.

ابوبکر بن عیاش رحمه الله په ٦٠ کلونو کې هره ورځ یو ځل قرآن ختم کولو او هغه په ۸۰ کاله روژې نیولې وی.هغه په ۹٦ کلنۍ کې وفات شوی.

امام بخاری رحمه الله هم هره ورځ په رمضان کې یو ځل قرآن ختم کاوه.

امام ذهبی رحمه الله وایي چې آسود هره دوه شپې وروسته په رمضان کې قرآن ختم کاوه.

أبو العباس الولید بن عبدالملک په رمضان کې له هر درې ورځو وروسته قرآن ختم کولو او په ټوله روژه کې یې ۱۷ ځله قرآن ختم کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مأمون په روژه کې ۳۳ځله قرآن ختم کرو.

موسی بن معاویه رحمه الله په هره شپه کې یو ځل قرآن کریم ختم کولو.

ابن العفیف په میاشت کې ٦٠ ځله قرآن ختم کړی دی.

عبدالله بن محسن وايي چې په رمضان کې يې ۳۰ ځله قرآن ختم کړی دی.

أبوه الرئیس أبو البرکات هم په رمضان کې ۳۰ ځله قرآن ختم کړی دی.

امام ذهبی وایی:امام ابن عساکر په ټول کال کې هره اونۍ قرآن ختم کاوه، خو په رمضان کې يې هره ورځ يو ځل قرآن ختمولو او د بيت المقدس په شرقي مناره کې يې اعتکاف کولو.سیر اعلام النبلاء)

امام شافعي رحمه الله په رمضان کې ٦٠ ځله د قرآن ختم کاوه.تذکره الحافظ

امام بخاري رحمه الله هره ورځ يو ځل قرآن ختم کاوه او د تراويح لمونځونو وروسته يې هره دربیمه شپه قرآن ختم کاوه.سیر اعلام النبلاء)

زه هم تاسو ته غږ کوم،ای مرجئه،اشعري او نور..! په دې روژه کې قرآن په تدبر او اخلاص سره تلاوت کړئ.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وايي: هغه څوک چې قرآن په تدبر او د هدایت په نیت تلاوت کړي، الله تعالی به هغه ته حق او هدایت ور په برخه کړي.

گرانه ملگریه، اوس مې خبره له تا سره ده!

دا د سلف صالحینو حال و. اوس په دې مبارکه روژه کې ستا حال د قرآنکریم سره څنگه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



گرانه ملگریه!د سلف صالحینو د روژې په میاشت کې د قرآنکریم تلاوت به ته حیران کړی وي او فکر به دې کړی وي چې څومره پیاوړي همتونه یې لرل.زه پوهېږم چې زموږ د ډېرو همت کمزوری شوی،او د کال په اوږدو کې د قرآنکریم لږ تر لږه یو ځل ختمولو توان هم نه دی پاتې.خو د دې راروانې روژې میاشتې د ضایع کېدو اجازه مه ورکوئ او د سستي او بې پروایي ښکار کېږئ مه.زه تاسو ته وړاندیز کوم چې که د لاندې وېش سره سم عمل وکړئ، نو لږ تر لږه د روژې په میاشت کې (۷)ځلی یا تر دې لږ قرآنکریم ختمولی شئ.

که غواړئ په روژه کې د قرآنکریم ختمونه وکړئ، نو لاندې جدول له مخې خپله ورځ تنظیم کړئ:

د روژې په میاشت کې دڅو ځله د قرآنکریم د ختم آسانه جدول

د یو ځل ختم لپاره هره ورځ ۲۰ پاڼې تلاوت وکړئ. د هر لمونځ وروسته ٤ پاڼې ولولئ چې یوازې ٥ دقیقې وخت نیسي.

د دوه ځله ختم لپاره هره ورځ ٤٠ پاڼې تلاوت وکړئ. د هر لمونځ وروسته ۸ پاڼې ولولئ چې ۸ دقیقې وخت نیسي.

د درې ځله ختم لپاره هره ورځ ٦٠ پاڼې تلاوت وکړئ. د هر لمونځ وروسته ۱۲ پاڼې ولولئ چې ۱۲ دقیقې وخت نیسي.

د پنځه ځله ختم لپاره هره ورځ ۱۰۰ پاڼې تلاوت وکړئ. د هر لمونځ وروسته ۲۰ پاڼې ولولئ چې ۲۰ دقیقې وخت نیسي.

د شپږ ځله ختم لپاره هره ورځ ۱۲۰ پاڼې تلاوت وکړئ. د هر لمونځ وروسته ۲٤ پاڼې ولولئ چې ۲٤ دقیقې وخت نیسي.

د اووه ځله ختم لپاره هره ورځ ۱٤٠ پاڼې تلاوت وکړئ. د هر لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروسته ۲۸ پاڼې ولولئ چې ۲۸ دقیقې وخت نیسي.

دغه ترتیب سره تاسو کولای شئ په روژه کې په منظم ډول قرآنکریم ختم کړئ، ان شاءالله.

فصل:ولې به سلف صالحینو په مبارکه روژه کې له درې یا (۷) ورځو څخه کمه موده کې د قرآنکریم ختم کاوه؟

هغه کسان چې ایمان یې کمزوری او ضعیف دی،په دوی کې همت نه لیدل کېږي.دوی روژه یوازې د لوږې او تندې په توګه ګڼي،خپل ورځنی روژه په خوب او شپې د بېلابېلو خوړو په خوراک تېروي او تر سحر پورې ویده وي.بیا په حیرانتیا سره پوښتنې کوي او شکونه راپورته کوي، داسې به وایي:دا امکان نه لري چې څوک په روژه کې،هغه هم د امام شافعي په څېر، ٦٠ ځل قرآنکریم ختم کړي، په داسې حال کې چې رسول الله ﷺ له دې منع کړې چې څوک دې په درېیو ورځو څخه په لږ وخت کې قرآن کریم ختم کړي...»

د دې حدیث په اساس، رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅکله نه دی ویلي چې ټول قرآن باید په یوه شپه کې تلاوت شي.مسلم روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله بن عمرو ته وویل:قرآن په میاشت کې یو ځل ختم کړه.عبدالله بن عمرو ځواب ورکړ: زه توان لرم چې له دې زیات وکړم.رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:نو قرآن په شل ورځو کې ختم کړه.عبدالله بن عمرو بیا وویل:زه له دې هم زیات توان لرم.رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو په (۷) ورځو کې یې ختم کړه، نه کم.

په نورو روایتونو کې راغلي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم عبدالله بن عمر ته اجازه ورکړه چې قرآن په پنځو ورځو کې ختم کړي، او وروسته یې دا وخت درې ورځې ته محدود کړ. هغه ته یې اجازه نه ورکوله چې قرآن

(c) ketabton.com: The Digital Library



د درې ورځو څخه کم وخت کی ختم کړي.

سعید بن منصور روایت کوي چې: څوک چې قرآن په درې ورځو څخه کم وخت کی ختم کړي، هغه به له دې څخه هیڅ زده نه کړي.رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: څوک چې قرآن په درې ورځو څخه کم وخت کی ختم کړي، هغه به له دې څخه په هیڅ نه پوهيږي.

دې حدیثونو کې اشاره شوې چې قرآن باید په تدبر او پام سره تلاوت شي، نه یوازې په ګړندۍ توګه.

امام ابن رجب حنبلي رحمه الله په دې اړه وايي:د قرآن ختمول د درې ورځو څخه کم موده کی منعه د عادي او معمول وختونو لپاره دی،خو د روژی میاشته او د هغې د ځانګړو شپو لکه شب قدر، او همداراز د مکې او مدینې په شان د شریفو ځایونو لپاره دا قاعده مستثنی ده.په دې ځانګړو وختونو او ځایونو کې باید قرآن تر معمول زیات تلاوت شي،تر څو له دې فضیلتونو څخه بشپړه ګټه واخیستل شي.باید دا ځانګړې شیبې او وختونه لکه غنیمت وبلل شي.دا نظر د امام احمد بن حنبل، اسحاق بن راهویه او نورو علماء د اقوالو سره همغږی دی،او ډیری سلفو علماء هم په دې عمل باندې ثابت پاتې دي.

شیخ علوان فک الله اسره وايي:کله چې ما واورېدل چې امام شافعی رحمه الله د رمضان په میاشت کې ٦٠ ځله قرآن ختم کړی،نو زه حیران شوم چې څنګه دا ممکن دی،خو کله چې زه زندان ته ولېږل شوم،زما دا حیرانتیا له منځه لاړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:سلف صالح ژړا او زاری.

د قرآن کریم تلاوت او په لمونځونو کې ژړا او زاری د سلف صالحینو یو له مهمو ځانګړتیاوو څخه وه.د سلف صالحینو ۱۴۶ تنه داسې کسان وو چې د زیاتې ژړا له امله یې خپلی سترګې له لاسه ورکړې وی، لکه ابن عمر، سعد بن ابی وقاص، او ابن عباس رضی الله عنهم اجمعین.

الله تعالی په قرآن کې د مؤمنانو په اړه فرمايي:{وَيَخِرُّونَ لِلْأَذْقَانِ يَبْكُونَ وَيَزِيدُهُمْ خُشُوعًا}الاسراء ۱۰۹

او هغوی پړ مخې په ژړا لوېږي او د هغه په اورېدو سره یې تواضع لا پسې زیاتیږي.

پیامبر صلی الله علیه وسلم،صحابه کرام او وروسته صالحینو خلکو به په خپلو لمونځونو کې د الله تعالی د وېرې او خشیت له امله ژړل.

شیخ ابن جبرین رحمه الله وايي:ژړا مستحب او ښه عمل دی کله چې قرآن واورېدل شي، یا کله چې وعظ او خطبه اورېدلی شي.الله تعالی په قرآن کې فرمايي:{إِذَا تُتْلَى عَلَيْهِمْ آيَاتُ الرَّحْمَنِ خَرُّوا سُجَّدًا وَبُكِيًّا} مریم۵۸

او د هغو حال دا ؤ چې کله به د الرحمان (الله) ایتونه ورته اورول کېدل،نو د ژړا په حال کښې به په سجده پرېوتل.

عبدالله بن الشخیر رضي الله عنه روایت کوي چې فرمايي:رأیت رسول الله صلی الله علیه وسلم یصلي، وفی صدره أزیز کازیز المرجل من البکاء.

ما رسول الله صلی الله علیه وسلم په داسې حال کې ولیدل چې لمونځ یې کولو او د هغه په سینې کې د ژړا داسې غږ وې چې لکه د دیګ غږ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو لومړی خلیفه ابوبکر رضي الله عنه ته یو نظر واچه وی:وعن ابن عمر رضى الله عنهما ، قال : الما اشْتَدَّ بِرَسُولِ الله صلى الله عليه وسلم وَجَعَهُ قيلَ لَهُ في الصَّلاةِ فقال: « مُرُوا أَبا بَكْرٍ فَلْيُصَلُ بالنَّاسِ ، فقالت عائشة ، رضي الله عنها: إِنَّ أَبَا بَكْرٍ رَجُلٌ رَفِيقٌ إِذا قَرَأَ القُرآنَ عَلَيْهُ البكاء ، فقال : « مُرُوهُ فَلْيُصَل».وفي رواية عن عائشة رضى الله عنها، قالت: قلت: إِنَّ أَبا بَكْرٍ إِذا قام مقامك لم يُسمع النَّاسِ مِنَ البكاء)متفق عليه

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما روایت کوي چې وایي:کله چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم ناروغي شدت پیدا کړ،نو هغه ته د لمونځ په اړه وویل شول.رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:ابوبکر ته ووایئ چې خلکو ته لمونځ ورکړي. عایشه رضي الله عنها وویل:ابوبکر یو نرم زړه لرونکی سړی دی،کله چې د قرآن تلاوت کوي، ژړا پرې غالبه شي.رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:هغه ته ووایئ چې خلکو ته لمونځ ورکړي.

په بل روایت کې عایشه رضي الله عنها وایي:ما وویل: کله چې ابوبکر د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر ځای ودریږي،نو د هغه د ژړا د شدت له امله به خلک د هغه هیڅ غږ وانه وري.

امام ابو داود روایت کوي چې زه د حارثي کور ته داخل شوم،هغه می د ژړا په حالت کې وه موندل. امام ورڅخه وپوښتل: ولې ژاړې؟حارثي ځواب ورکړ: تېره ورځ ما خپل ټاکلی حصه د قرآن تلاوت نه کره،او زه فکر کوم چې دا ځکه چې ما کومه گناه نه وي کړې.الحلية٥/٧٩

ابن ابی ملیکه وایي:موږ د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه سره په یوه مجلس کې ناست وو. هغه وفرمایل:ژړا وکړئ، او که ژړا نه کوئ،نو ځان په داسې حالت کې واچوئ چې داسې احساس وکړئ لکه چې تاسو ژاړئ. ځکه که تاسو پوهېدلي وای چې دا عمل څومره مهم دی،نو هر یو به ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ کولو تر دې چې د لمونځ له ډېر کولو سره به يې ملا ماتې شوې وای او داسې به يې ژړل چې غږ يې پرې شوی وای.صحيح الترغيت والترغيب

هيڅ يو له سلف صالحو نه قرآن پرته له تدبر او خشوع څخه نه دی تلاوت کړی.

کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دغه آيت واوريد: ﴿فَكَيْفَ إِذَا جِئْنَا مِن كُلِّ أُمَّةٍ بِشَهِيدٍ وَجِئْنَا بِكَ عَلَىٰ هَٰؤُلَاءِ شَهِيدًا﴾ نو څنګه به وي کله چې موږ له هر امت څخه يوه شاهد راولو او تابه د هغوی په وړاندې شاهد جوړ کړو) د هغه له سترګو اوښکې توی شوې او هغه ژړا وکړه.

ابو هريره رضي الله عنه وايي:کله چې دغه آيت نازل شو: ﴿وَتَضْحَكُونَ وَلَا تَبْكُونَ﴾ (تاسې خاندئ او ژاړئ نه)، د اهل صفه ټولو خلکو ژړا پيل کړه، تر دې چې د دوی دسترګو اوښکې د مخونو پر سر روانې شوې.کله چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د دوی ژړا وليده، هغه هم ژړا وکړه. بيا رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: هيڅوک به د جهنم اور ته نه ځي هغه څوک چې د الله تعالی لپاره يې اوښکې توی کړې وی.

کله چې ابن عمر رضي الله عنه دسوره مطففين تلاوت کولو او دې ځای ته ورسيد:﴿وَيَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ﴾ (او هغه ورځ چې خلک د پروردګار په وړاندې دريږي)، هغه داسې ژړا وکړه چې تر ځمکې لاندې راوغورځېدو او بيا ونه توانېدو چې دغه تلاوت بشپړ کړي.

مزاحم بن زفر وايي:سفيان ثوري رحمه الله موږ ته دماښام د لمونځ امامت وکړ، کله چې هغه دې آيت ته ورسيد:﴿إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ﴾ (يوازې ستا عبادت کوو، يوازې تا نه مرسته غواړو)،

هغه ژړا پيل کړه تر دی چې نور يې د تلاوت توان نه درلود.بيا يې له سره د سورت تلاوت پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدارنگه مزاحم بن زفر څخه روایت دی چې هغه وویل:ابراهیم بن اشعث وایي:یوه شپه مې د فضیل څخه واورېدل چې د سوره محمد تلاوت یی کولو، هغه په ژړا او له اوښکو سره دا آیت تکرارولو:﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ حَتَّى نَعْلَمَ الْمُجَاهِدِينَ مِنكُمْ وَالصَّابِرِينَ وَنَبْلُوَ أَخْبَارَكُمْ﴾ [محمد: ٣١].

یعنې:بېشکه چې زه تاسو ازمایم ترڅو پوه شم چې کوم کسان ستاسو څخه مجاهدین دي او کوم کسان صابران دي، او د ستاسو حالونو ازموینه وکړم.

او ویل یی:زه ستاسو حالونه آزمایم، او دا به یی په دوامداره توگه تکرارول: ای الله،ته زموږ حالونه ازمایي، موږ به شرمنده شو، زموږ رازونه به ښکاره شي،او په پای کې به موږ د هلاکت او عذاب سره مخامخ شو.هغه به د ژړا په حالت کې دا کلمات له ځان سره تکرارول.

امام ابن رجب حنبلي رحمه الله وايي چې سلفو صالحینو به په روژه کې خپلې خنداگانې کمولې او ځینو به یې هیڅ نه خندل.

د سلفو دیوکس څخه روایت شوی چې هغه ټوله شپه د»عم یتساءلون« سوره په دوه رکعتونو کې بشپړه نه کره. کله چې یې سوره شروع کوله،د هغه زړه به د الله تعالی په عظمت او آیتونو باندی ډوب شو،او له شدت غم او خشیت به یې ژړا پیل کړه.د هغه ژړا ادامه پیدا کړه او ونه توانېدو چې سوره بشپړه کړي تر دی چې شپه پای ته ورسېده.

محمد بن واسع وايي:ما ډیر کسان لیدلي دی چې د الله له وېرې به یی په خپلو ځانگړو ځایونو کې اوښکې تویولې،او ځینو به یې په جومات کې د لمانځه پر مهال ژړا کوله.که څه هم، ځینې وختونه د هغوی سره ناست کسان نه پوهیدل چې هغوی ژاړي.

دسلف صالحینو څخه ځینې کسان داسې و چې د ذکر مجلس کې به

(c) ketabton.com: The Digital Library



ناست وو او د اوښکو د تويدو مخه به يې نيوله.که چيرې وبه نه توانېدل چې په کی د خپلی ژړا مخه ونيسي،نو له مجلس څخه به وتل.

د عمر بن عبد العزيز مېرمن وايي:ما هېڅوک د عمر بن عبد العزيز په شان نه دی ليدلی چې د قيامت څخه يې دومره وېره وي او په لمونځ کې دې دومره ژړا وکړي.ځينې وختونه، به هغه د ژړا وروسته به داسې ښکارېدلو لکه چې هغه مړ شوی وي.

يوه عالم وايي:کانوا بيکون مع التقوی وانت لا تبکی مع الذنوب».

هغوی د تقوی او الله تعالی د وېری سره سره بيا هم ژړل، خو ته چې له گناهونو ډک يې، بيا هم ژړا نه کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل: سلف صالح او په مسجد کې ناسته

دکتور یوسف وایي:مسجد په لومړیو کې د اسلام د بنسټیزو ځایونو په توګه د خلکو د کلتور او نفس د تهذیب لپاره یو پوهنتون و.دا د مشورې او تفاهم لپاره یو محلي پارلمان و،د خلکو ترمنځ د محبت د رامینځته کولو مرکز و،همدارنګه، مسجد د سیاست د زده کړې یو موهم ځای و»

جومات سره تړاو او په هغه کې پاتې کېدل جنت ته د داخلېدو یو لامل دی او په قیامت کې انسان ته د رحمان په سایه کې ځای ورکوي.

په صحیح مسلم کې د ابو هریره رضی الله عنه څخه روایت شوی دی،چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:سَبْعَةٌ يُظِلُّهُمُ اللَّهُ فِي ظِلِّهِ يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلُّهُ:... وَرَجُلٌ قَلْبُهُ مُعَلَّق في المساجد ...».اخرجه بخاری

اووه کسان دي چې الله تعالی به هغوی ته په قیامت کې په خپل سایه کې ځای ورکړي،هغه ورځ چې پرته د هغه له سایه څخه به بله کوم سایه نه وي:... او یو پکی هغه سړی دی چې زړه یې د جوماتونو سره تړلی وي.»

له همدی امله سلف صالحینو د جومات سره دیره مینه درلوده او جومات ته به یې د ستر جهاد په توګه ګڼل.

سعید بن المسیب رحمه الله فرمایي چې: «په تېرو ۳۰ کلونو کې موذن اذان نه وو ویلی، زه به په جومات کې حاضر وم.»مصنف ابن ابی شیبه

یوه بل سلف ویلي چې: «یوولس میاشتې د خلکو لپاره کار کوم، خو یوه میاشت می یوازې د الله او د آخرت لپاره ځانګړې کړې.»

امام ابن قیم وایي چې: «سعید بن جبیر رحمه الله دجمعی دعصر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمانځه وروسته هېڅکله له چا سره خبرې نه کولې،تر هغه وخته چې لمر لویدلی نه وای،یوازې به د دعاګانو سره مشغول و.»

مفضل بن فضاله رحمه الله هم د جمعې ورځې د عصر لمانځه وروسته په جومات کې یوازې پاتې کېدلو او تر غروب پورې به د دعا کولو سره مشغوله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:روژه د جهاد او مبارزې میاشت

حافظ ابن رجب رحمه الله فرمایي:ډاډه اوسئ چې د روژې په میاشت کې د مؤمن لپاره دوه جهادونه شتون لري:

۱.جهاد په ورځ کې د روژې نیولو له لارې

۲. جهاد په شپه کې د قیام اللیل (د عبادت کولو) له لارې

نو هر څوک چې دواړه ترسره کړي، په بشپړه توګه یې صحیح اداء کړي او د دې په برخه کې ټینګ اهتمام وکړي،بې شمېره اجرونه به ترلاسه کړي.»(لطائف المعارف)

له بده مرغه موږ ته له کوچنیوالي څخه دا ښودل شوي چې په روژه کې ( په روژه کې یوازې خوراک او څښاک مه کوئ) او همدا د روژې حق دی په بنده باندې!.

خو کله چې د تاریخ او سیرت کتابونو ته مراجعه وکړو،نو ګورو چې د صدر اسلام اولو باتورو سرتېرو د عربو په هغه ګرمو او سوځونکو دښتو کې د رسول الله ﷺ نعرې ته لبیک ویلی وو او د اسلام او مسلمانانو د دفاع لپاره د کفارو، مشرکینو، یهودو او مرتدینو په وړاندې جنګېدلي وی.

په حقیقت کې،کله چې ایمان د تحقیق په توګه ترلاسه شي،مومن چمتو وي چې د خپل ایمان د ساتنې لپاره هر کار وکړي.په دې بحث کې غواړم هغو برخلیک ټاکونکو غزاوو ته اشاره وکړم چې د مبارکې روژې په میاشتو کې واقع شوي دي.

ځیني داسې مأموریتونه چې د مبارکې روژې په میاشت کې ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوي، امام ابن سعد د هغوی یادونه کړې او ډاکټر ابوخلیل شوک په خپل کتاب»اطلس القرآن« کې داسې ویلي دي:

۱.د حضرت حمزه عمري سریه، چې په ساحل سره اسود کې ترسره شوه. په دې کې ۳۰ مهاجر وو او ۳۰ مشرکانو سره جګړه وشوه. دا سریه د روژې په لومړیو کلونو کې ترسره شوې ده.

۲.د حضرت عبیدة بن حارث سریه، چې په روژه کې د مدینې په سیمه کې ترسره شوه، په دې کې یوازې څو مسلمانان او مشرکان شامل وو.

۳.د زید بن حارثه سریه، چې د روژې په شپږم کال کې د وادي القری په سیمه کې ترسره شوه. په دې کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرامو ګډون کړی و.

۴.د عبدالله بن عتیک سریه، چې د خیبر په سیمه کې د روژې په شپږم کال کې ترسره شوه. په دې کې پنځه مسلمانانو برخه اخیستې وه.

۵.د غالب بن عبدالله لیثي سریه، چې د تیره نخله په سیمه کې د روژې په اووم کال کې ترسره شوه، په دې کې ۱۳۰ مسلمانانو برخه اخیستې وه.

٦.د ابو قتاده انصاري سریه، چې د روژې په اتم کال کې د خضیره په سیمه کې ترسره شوه، په دې کې اته مسلمانانو ګډون درلود.

۷.د خالد بن ولید سریه، چې د اتم روژې په میاشت کې د تیره عُصم په سیمه کې ترسره شوه. په دې کې ۳۰ مسلمانانو برخه اخیستې وه.

۸.د عمرو بن عاص سریه، چې د روژې په اتم کال کې د سواع بوت د تخریب لپاره ترسره شوه.

۹.د سعید بن زید سریه، چې د روژې په اتم کال کې د مشلل په سیمه کې ترسره شوه،په دې کې ۳۰ سپاره مسلمانانو ګډون درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادونه.سریه د اسلامي پوځ هغه کوچنۍ برخه ده چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم له ګډون پرته یو ځانګړې مأموریت ترسره کوي.

همدارنګه،شیخ ډاکټر عبدالحکیم انیس په خپل کتاب«النبي صلی الله علیه وسلم في رمضان» کې د روژې میاشتې په جریان کې د نورو سرنوشت سازو غزاګانو او جګړو یادونه هم کړې ده.

د بدر غزا په دوهم هجري کال کې پېښه شوه.دا بریا د مسلمانانو لومړنۍ ستره بریا وه چې هغوی یې د جزیرة العرب په سیمه کې د یو ځواک په توګه وپېژندل.

شیخ محمد صالح منجد رحمه الله وایي:د رمضان میاشت روژه د دې لپاره نه ده چې انسان واجبات پرېږدي او د نورو حقونه ضایع کړي،پدې ادعا چې د روژې د سختۍ او ستړیا سره مخ دی، لکه څنګه چې د ډېرو معاصرو مسلمانانو حالت دی.بلکې د رسول الله ﷺ په سیرت کې ځینې سترې پېښې، لکه د بدر غزا او د مکې فتح،په همدې میاشت کې ترسره شوې دي.یادې شوې غزاوې هغه سترې جګړې وې چې د اسلام بریا او د مسلمانانو ځواکمنتیا یې له ځان سره راوړې.

فتح مکه په اتم کال هجری کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په امر ترسره شوه.چی دجزیرې عرب څخه یی د کفر تغر ټول کړو.

د قادسیې جګړه د مسلمانانو د پیروزی یوه بیلګه ده چې د سعد بن ابی وقاص په قوماندۍ کې د ساسانیانو پر وړاندې په کال ۱۵ هجرت کې ترسره شوه.

د یرموک جګړه د مسلمانانو پیروزی وه چې د عمر بن الخطاب رضي الله عنه په خلافت کې د بیزانس ځواکونو پر وړاندې ترسره شوه او د شام ځمکه د خلافت برخه شوه، دا جګړه په کال ۱۵ هجری کې وشوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د وادي لکه د مسلمانانو د اموي حکومت په قوماندۍ د طارق بن زیاد په رهبرۍ د ویزېګوت ځواکونو پر وړاندې د روژې په میاشت کې په کال ۹۲ هجری کې ترسره شوه. دغه جګړه د ایبریا (اوسنۍ اسپانیا او پرتګال) د بشپړې فتحې سبب شوه.

د حطین جګړه د مسلمانانو پیروزی وه چې د صلاح الدین ایوبی په قوماندۍ د صلیبي ځواکونو پر وړاندې په کال ۵۸۳ هجری (۱۱۸۷ میلادي) کې ترسره شوه. ددغه بریا نتیجه د فلسطین او بیت المقدس آزادول وه.

د عین جالوت جګړه د روژې په میاشت کې په کال ٦۵۸ هجرت کې ترسره شوه. په دې جګړه کې د مسلمانانو ممالیک پوځ د سیف الدین قطز په قوماندۍ په لومړی ځل دمغولو پوځ ته ماتې ورکړه او د هغوی د پرمختګ مخه یې ونیوله.دا جګړه د مغولو لومړۍ لویه ماتې وه.

د شقحب جګړه د روژې میاشت کې په کال ۷۰۲ هجرت کې ترسره شوه. په دې جګړه کې د مسلمانانو ممالیکو پوځ د مغولو او د هغوی د صلیبي متحدانو پر وړاندې بریا ترلاسه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:د سلفو اهتمام د اعتکاف لپاره

د سلفو علماؤ عادت داسی و چې د روژې له برکتونو او انواراتو څخه د ښې ګټې اخیستنې لپاره به یی د دې مبارکې میاشتې په راتلو سره اعتکاف کاوه. هغوی به تدریس،خبرې، ملاقاتونه او نورې چارې پرېښودې، ترڅو د روژې هره لحظه او هره ثانیه په عبادت او معنوي ګټې اخیستنې تېره کړي.

أبو عثمان النهدي رحمه الله فرمايي: كانوا يعظمون ثلاث عشرات

العشر الأخير من رمضان

والعشر الأول من ذي الحجة

والعشر الأول من المحرم.لطائف المعارف

سلف صالحينو به درې لسيزې ډېرې ارزښتمنې ګڼلې او درناوى يې کولو.

١. د رمضان آخري لس ورځې.

٢. د ذوالحجې لومړۍ لس ورځې.

٣. د محرم لومړۍ لس ورځې.

د رسول الله ﷺ څخه ثابت دی چې هغه به د روژې په مبارکه میاشت کې اعتکاف کاوه او خپلو صحابه کرامو ته یې هم د دې سنت د ترسره کولو امر کاوه.آن د هغه مبارک مېرمنو به هم اعتکاف کاوه.

د عائشه رضي الله عنها څخه روايت دی:عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا : أَنَّ النَّبي - صلى الله عليه وسلم - اعتكَفَ وَمَعَهُ بَعْضُ نِسَائِهِ .....بخارى

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله ﷺ به اعتکاف کولو،او کله ناکله به يې مېرمنو هم ورسره ګډون کاوه.(بخاري)

او د عائشه رضي الله عنها څخه بل روايت دی:أَنَّ النَّبِيَّ - صلى الله عليه وسلم - كَانَ يَعْتَكِفُ الْعَشْرَ الْأَوَاخِرَ مِنْ رَمَضَانَ حَتَّى تَوَفَّاهُ اللهُ، ثُمَّ اعْتَكَفَ أَزْوَاجُهُ مِنْ بَعْدِهِ بخاری

رسول الله ﷺ به د روژې په آخري لسو شپو کې اعتکاف کولو، تر هغې چې الله تعالی هغه وفات کړو.وروسته له هغه د هغه مېرمنو هم دا سنت ترسره کولو.(بخاري)

هغه څه چې د شيخينو له احاديثو څخه ثابتېږي دادی چې رسول الله ﷺ په خپل ټول عمر کې اعتکاف نه دی پرېښی.بلکی د هغه تر وفات وروسته هم دهغه امت دا سنت نه دی پرېښی او مسلمانانو تر نن پورې دې سنت ته دوام ورکړی دی.

معتکف لپاره همدا ثواب بسنه کوي چې د هغه چا پيروي کوي چا چې په خپل ټول عمر کې حتی يو ځل هم اعتکاف نه دی پرېښی.که څه هم د اعتکاف په فضيلت کې کوم صحيح حديث نه دی روايت شوی.امام ابوداود ويلي: ما له امام احمد څخه وپوښتل، آيا د اعتکاف په فضيلت کې دې څه اورېدلي دي؟ هغه وويل: نه، مګر يو څه ضعيف روايات.

امام زهري رحمه الله وايي:زه د اعتکاف په اړه حيران يم، سره له دې چې رسول الله ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنه اجمعين په دې باندې دوام او پابندي کوله، خو نن زموږ په منځ کې ورک شوی دی.

عطاء رحمه الله فرمايي:مثال د اعتکاف کوونکي په شان د يو اړتيا لرونکی سړي دی چې د يوې سترې کورنۍ په دروازه کې ناست وي،او په دوام سره وايي: زه نه پاځېږم تر څو چې زما اړتيا پوره نه کړی.همدارنګه، يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



معتکف کوونکی د الله په کور (مسجد) کې ناست وي او وايي:زه نه پاڅیږم تر څو چې الله ماته بخښنه ونه کړی او زما ګناهونه معاف نه کړي.والله مثل الأعلی.

د مصر قاضي امام او علامه عبد الرحمن بن محمد څخه روایت دی چې هغه به هر کال په روژه کې اعتکاف کولو.رفع الإصر اعن قضاء مصر۹۹

امام احمدبن حنبل هم د روژې میاشت په مسجد کې تیروله،په استغفار او تسبیح به بوخت و،او یوازې چې به کله ضرورت پیدا شو،له مسجد څخه به بهر وتلو.الصیام أدله و احکام۶۰

همداراز، له امام مالک څخه هم روایت دی چې هغه به روژه کی په مسجد کې اعتکاف ته کینستلو.

له اصمعي څخه روایت دی چې هغه وویل:د روژې میاشت پیل شوې وه او زه په مکه کې وم.

ما غوښتل د مکه د تودوخې له ویرې طائف ته لاړ شم او د روژې میاشت هلته تېره کړم.

کله چې زه دمکې څخه وتلم، یوه بدوي وګړی مې ولید چې ښار ته داخلېدلو.

ما ترې وپوښتل: دلته ولې راغلی یې؟

ویې ویل: غواړم دغه مبارکه میاشت په دغه مبارکه ښار (مکه) کې تېره کړم.

ما ترې پوښتنه وکړه:ته له تودوخې نه نه وېرېږې؟

ویې ویل:برعکس، زه د جهنم له تودوخې څخه تېښته کوم.»

شیخ عبد العزیز طریفی وايي:روژه تر ټولو غوره میاشت ده،او د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره چې خلک ددی په پای کې له خپلې ارادې سست نه شي،الله تعالی یې پای د پیل نه غوره او فضیلتناک کړی دی.هغه څوک چې روژه ضایع کړي،هغه له برکته محروم دی،او هغه څوک چې یې په صحیح ډول ادا کړی،هغه رحمتونه ترلاسه کوي.»

الله متعال د روژې پای له پیل نه زیات فضیلت ناک کړی دی،ځکه چې د انسانانو نفسونه په پیل کې د هر کار لپاره زیات شوق او ولوله لري،خو په پای کې د کارونو قوت کم او انسان سست او ضعیف کېږي.

صادق انسان ثابت او پر ځای پاتې کېږي،خو منافق سست او کمزوری کېږي.هر څوک به د خپل ایمان په اندازه ثبات او استقامت ولري.

چا چې د روژې په پیل کې کوتاهۍ کړې وي او په پای کې یې د عبادت او نېکۍ سره عمل وکړي،د هغه کس څخه غوره دی چې په پیل کې یې عبادت کړی وی،خو په پای کې یی کوتاهۍ کړې وی.او حقیقت دا دی چې د بندګانو اعمال د هغوی په پایلی پورې تړلي دي.

د روژې وروستۍ لسې ورځې د ټولې میاشتې له ۲۰ ورځو څخه غوره او زیات فضیلت لرونکی دی.هر عبادت چې په لومړیو ۲۰ ورځو کې لوی او فضیلت لرونکی و، په دې وروستیو لسو ورځو کې یې فضیلت څو چنده زیاتېږي،او حتی که عبادت لږ هم وي، بیا هم د هغې ارزښت او فضیلت ډېر لوړ او دروند دی.

په دغه وروستیو شپو کې غوره عبادت د لمانځه ادا کول،د قرآن تلاوت او دعا کول دي.

او بهتره دا دی چې دغه درې عبادتونه یو ځای ترسره شي، داسې چې د لمانځه قیام یې د قرآن تلاوت سره او سجده یې د دعا کولو سره اوږده کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیامبر صلی الله علیه وسلم سره له دې چې د اسلامي دولت مشري ئی کوله او د امت مفتی و،او ټول امت ورته شدید اړتیا درلودله،بیا هم هغه په دغه وروستیو شپو کې اعتکاف کاوه او خپل ځان یې د شخصي عبادت لپاره فارغه کاوه.

که څوک نه شي کولی چې په ټولو لس شپو کې اعتکاف وکړي،نو باید په فردي یعنی طاق شپو کی (۲۱، ۲۳، ۲۵، ۲۷، ۲۹) کې اعتکاف وکړي. که دا هم نه شي کولی، نو باید په ۲۷ شپه کی اعتکاف وکړي. که دا هم نه شي کولی، نو لږ تر لږه باید یو ساعت اعتکاف وکړي. صحابي یعلی بن امیه به هر کال یو ساعت اعتکاف کولو.

اکثره دسلفو ښځو او سړیانو به لس وروستیو شپو کې په کورونو کې نه، بلکې په مساجدو کې به یې اعتکاف کاوه.

سبحان الله،نن ورځ هم په مساجدو کې دمسلمانانو ځوانان لیدل کېږي چې د روژی په پیل کې د اعتکاف کولو لپاره ثبت‌نام کوي.شیخ ابو عبید الله رحمه الله به ویل:کله چې د معتکفینو شمېر بشپړ شو،ډېری ځوانانو ژړل او زما سره به یی ارتباط نیولو، او ویل به یی چې موږ اعتکاف نشو کولی،ځکه چې شمېر بشپړ شوی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:له روژې وروسته سلف صالحين

سلف صالحين د روژې مياشتې د راتګ لپاره ډير خوشحاله وو،خو کله چې به دا مياشت پای ته ورسېده،نو د هغې په فراق کې يې ژړل،لکه څنګه چې يو څوک د خپل زوی د جلاوالي په خاطر ژاړي!.

ډيرو سلفو لکه صحابه، تابعين او اتباع تابعين د روژې د پای ته رسيدو په وخت کې د هغې په فراق که يی ژړل او د دې مياشتې د تېرېدو په اړه يې خواشيني څرګنده وله. دا د دوی د زړه صفايي او د داخلي رڼا ښکارندوينه کوي.

امام ابن قيم رحمه الله فرمايي:هر څوک چې د روژې مياشت په صحيح ډول تېره کړي او له سالم ايمان سره يې پای ته ورسوي،نو د کال نورې ورځې به هم ورته سالمې وي.»زاد المعاد

د روژې له ختميدو وروسته په سلفو کې ځينې بدلونونه رامنځته کېدل،لکه څنګه چې يو څوک له حج څخه راغلی وی:

د هغوی اخلاص به زياتېدلو.

د الله تعالی څخه يی د ويرې کچه زياتېدله.

د قرآن سره مينه يې د زړه په ژورو کې ځای نيولو.

د الله لپاره د دوی دوستی او ورورګلوي لا ټينګېدله.

او د غريبانو مرستې ته يې پام زياتېدلو.

دسلف له يو عالم څخه پوښتنه وشوه: دهغه قوم په اړه چې يوازې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



روژی کې د الله عبادت کوي او په واجباتو عمل کوي،خو کله چې روژه پای ته ورسیږي،له عبادت څخه لاس اخلي.

هغه ځواب ورکړ:«څومره بد قوم دي! چې الله یوازې په روژه کې پیژني.»(لطائف المعارف)

بعضی سلف صالحین به داختر په ورځ کې غمجین ښکاره کیدل،او کله چې به هغوی ته ویل کیدل چې عید فطر د خوښۍ او خوشحالۍ ورځ ده، نو هغه به ځواب ورکولو:

«هو، تاسو رښتیا وایئ، خو زه یو بنده یم چې زما پالونکی ما ته یو کار سپارلی وه، او اوس زه نه پوهیږم چې آیا هغه کار مې قبول شوی دی او که نه؟»لطائف المعارف

گرانه ملگرِیه،موږ د رحمان بندگان یو نه د روژی،نو هغه بدلون چې موږ په روژه کې په ځان کې راوستلی،باید وروسته له روژی هم په خپل وجود کې ثابت او مستحکم کړو.

زما وروره،په روژه کې پوهیږم چې تا ډېره هڅه کړې او خپل ځواک دی د قرآن په فهم او د الله تعالی په عبادت کې کارولی دی.اوس باید د دې اعمالو د قبولو لپاره کوښښ وکړې. علی رضي الله عنه فرمایي: «هر هغه څه چې ترسره کوئ، باید کوښښ وکړئ چې د هغه د قبولو لپاره تر ټولو زیات پام او هڅه وکړئ.»ماه مبارک رمضان شاهراه رستگاري

همداراز، له علی رضي الله عنه څخه نقل دی چې هغه به د روژې په وروستیو شپو کې په لوړ غږ فریاد کولو:ای کاش پوهېدم چې هغه خوشبخت او نیک بخت څوک دی چې دعا یې قبوله شوې وی،او هغه بدبخت او محروم څوک دی چې د الله تعالی له دربار څخه رنگ شوی او دعا یې نه قبلېږي.»ماه مبارک رمضان شاهراه رستگاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پیل کې مو د امام ابن رجب کتاب څخه نقل کړی و چې صالحانو به ویل: ای الله، موږ ته د راتلونکي روژې لپاره ژوند راکړه»،او شپږ میاشتې وروسته له روژې څخه به یې دعا کوله چې ای الله تعالی د پخواني روژې عبادتونه او نېک عملونه مو قبول کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تحذیرونه!

اول:

له دې څخه ځان وژغوره چې ووایې: «زه یوازې روژه نیسم، خو لمونځ نه کوم»یا دا چې د لمونځ په اړه ووایې: «بیا یې کوم، اوس ستړی یم!»

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وایي: هغه څوک چې لمونځ په خپل وخت کې ادا نه کړي او ووایي: «بیا یې کوم»،نو هغه لمونځ به د هغه کس له خوا قبول نه شي.

ځکه چې د پیامبر صلی الله علیه وسلم صحابه لکه عمر بن خطاب، عبدالرحمن بن عوف، معاذ بن جبل او ابو هریره رضی الله عنهم فتوا ورکړې ده چې: «من ترك صلاة فرض واحدة متعمداً حتی یخرج وقتها فهو کافر مرتد» (الفتاوی).

یعنې:هغه څوک چې له قصد څخه یو فرضی لمونځ پرېږدي تر څو چې د هغه وخت تېر شي، نو هغه کافر مرتد دی.

د روژی په میاشت کې له جدل او مناظرو څخه ډډه وکړئ

سلف صالحینو چې کله د حدیث درسونه او کتابت پریښودل،نو بیا یې پر ځان او نورو لازم ګڼله چې له مناظرو او جدلو څخه ډډه وکړي،حتی که څوک د رسول الله صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه هم کم سنت نه مني.ځکه چې(۱۱)میاشتې د پوهې ترلاسه کولو او ښوونې لپاره دي،او یوازې یوه میاشت ده چې باید ځان په عبادت کې وقف کړو ترڅو د الله تعالی رضا ترلاسه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابن رجب حنبلي رحمه الله وايي: ځینې صالحانو ویلي دي:کله چې الله تعالی یو بنده ته د خیر اراده ولري،نو د نېک عمل دروازه ورته پرانیزي او د بحثونو او مناظرو دروازه پرې بندوي.

او کله چې الله تعالی د یو شخص لپاره د زیان اراده وکړي،نو د بحثونو او مناظرو دروازه پرې پرانیزي او د نېک عمل دروازه له هغه څخه بندوي.»فضل علم السلف

که چا پرون لمونځ نه کولو او زړه یې معلق یا مسجد ته نه تلو،خو نن ورځ مسجد ته راغلی او لمونځ کوي،نو هغه ته تائب(توبه کوونکی)ووایه نه «منافق!».

هیڅکله د خپل ورور په اړه د شیطان مرسته مه کوئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## فصل:په وروستیو ورځو د روژی کې دا پوښتنه له ځان څخه وکړه چې...

گرانه ملگریه،موږ د دې کتاب پای ته نږدې شوه، غواړم چې د روژې په پای کې له ځان څخه دا پوښتنه وکړې: «روژه مې څنگه تېر کړه؟آیا واقعاً په ایمان او احتساب سره وه؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:من صام رمضان إيماناً واحتساباً غفر له ما تقدّم من ذنبه.»بخاری

یعنې هر څوک چې په ایمان او د روژی په پاداش باندې روژه ونیسي،هغه گناهونه چې مخکې یې کړي وي، بخښل کېږي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله وايي:

منظور د روژې په ایمان سره د نیولو دا دی چې الله تعالی روژه مشروعه او واجبه گرځولې ده،او هغه ته یې امر کړی دی.د هغې د بشپړ اداکولو په وسیله الله تعالی راضي کېږي.»

او مراد له احتساب څخه دا دی چې روژه نیونکی«روژه» یوازې د الله تعالی د رضا لپاره نیسي او هغه یواځې له الله تعالی څخه د پاداش او اجر هیله لري.جامع المسائل ١/١٦١

امام ابن بطال رحمه الله فرمايي:«إيماناً»یعنی: دا تصدیق چې روژه د الله تعالی لخوا پر تاسې فرض شوې ده او همدارنگه تصدیق کول چې الله تعالی په دې میاشت کې د قیام او صیام په بدل کې تاسو ته پاداش درکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



«محتسباً» یعنی: روژه او قیام یوازې د الله تعالی د رضا لپاره ترسره کړئ،له ریا او ځان ښودنې څخه ډډه وکړئ او یوازې د الله تعالی څخه داجر او پاداش هیله ولری.(شرح ابن بطال، ۱/۵۹)

له همدې امله له ځان سره ارزونه وکړه چې دغه میاشت مو څنګه تېره کړه؟ آیا حقیقتاً «ایماناً او احتساباً» وه یا نه؟

روژه هغه میاشت ده چې ټول خیر په هغې کې راټول شوی دی. علامه ابن کثیر رحمه الله وایي:تورات د روژی په شپږمه ورځ کې نازل شوی،انجیل د روژی په دولسمه ورځ کې،زبور د روژی په اتلسمه ورځ کې،او قرآن د قدر په شپه کې نازل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فهرست مصادر او مراجع


۱. قرآن کریم

۲. صحیح البخاری

۳. صحیح مسلم

۴. سنن النسائی

۵. سنن ابی داود

٦. سنن الترمذی

۷. سنن ابن ماجه

۸. مشکاة المصابیح

۹. ریاض الصالحین

۱۰. جامع الاحادیث الصحیح

۱۱. لطائف المعارف

۱۲. حال السلف فی رمضان

۱۳. اقوال وقصص السلف فی الصیام

۱۴. هدیه السلف فی رمضان

۱۵. جدول السلف فی رمضان

۱٦. احوال بخشیدن در رمضان

۱۷. القرآن وقصص السلف فی الصیام

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸. هدیه السلف فی رمضان

۱۹. جدول السلف فی رمضان

۲۰. احوال پیشنیان در رمضان

۲۱. قیام اللیل (ترجمعه فارسی هم شده)

۲۲.احکام قیام اللیل

۲۳.کیف تتحمس لقیام اللیل کتاب التهجد وقیام اللیل

۲۴. فضل قیام اللیل والتهجد

۲۵.قيام الليل فضله، وآدابه، والأسباب المعينة عليه في ضوء الكتاب والسنة

۲٦.مختصر قیام اللیل

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**